


ژوند په دائره کښې

ګار یوسفزے

شعر دَ "هنر" نوم دے او کوم شعر کښې چې هنري "تمنه" فطري سادګي، فکري تازګي ، ارژنګره انځور ګري ، لفظي جادوګري ،نازکي ، نغمګي ، کمه کمزوري وي نو تش مصنوعيت او مقصديت هغه دَ تل پاتې ژوند تر پولو او پوړو نهٔ شي رسولے۔

دَ دوران دَ ګريان غورزي پرزي ،تاؤ تپ ، شور او زوَړ، تيارې تورتمونه او تيندکونه چې شاعر دَ خپلو احساساتو ، محسوساتو او جذباتو پهٔ رينا دَ ژوند دَ تصوير سره دَ خوږ ، رنګ باره ، حسن خېزه شعريت پهٔ مزي اوکنډي نو ابدي او آفاقي شعر تربنه جوړ شي او هم داسې شعر دَ شاعر دَ شعور دَ ټولو غاړو، خواؤ او ځانګو عکاس او ترجمان وي ۔

ما چې دَ ښاغلي ګار يوسفزي نه کوم نظمونه وخت پهٔ وخت پهٔ ادبي ناستو او بنډارونو کښې اورېدلي دي نو زما يقين دے چې که دَ موصوف ملګري ټوله شاعري هم داسې تغزل رېزه ، ښائيست باره وي او دا شاعري دَ کتاب دَ ژوند دَ عمل پهٔ غېږ کښې محفوظه شي نودا به زمونږ پهٔ شعري پنګه او پانګا کښې يوه خوږه ، درنه او رڼه اضافه وي ۔

**سید صابر شاه صابر**
**پېښور**

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ



www.pukhto.net

ټول حقوق د ليکوال او پښتو ډاټ نېټ وېب پاڼې

په نوم محفوظ دي


- د کتاب نوم ——— ژوند په دائره کښې
- شاعر ——— ځار يوسفزے

03339506595

Zaaryousafzai@gmail.com

- مخ پاڼه ——— تحسين بټ خېله
- کمپوزنګ ——— خيام يوسفزے
- پروف ريډينګ ——— ګوهر علي ګوهر ، حنيف قېس
- د چاپ کال ——— 2015 اپرېل
- د چاپ شمېر ——— يو زر
- بېعه ——— 250 روپۍ
- خورونکي ——— پښتانهٔ ادبي ملګري "پام" بټ خېله
- چاپځای ——— اعراف پرنټرز محله جنګي پېښور

03125945568 — 091-2580006

## د موندلو درکونه

- دفتر پښتانهٔ ادبي ملګري "پام" بټ خېله ملاکنډ
- يونيورسټي بک ايجنسي پېښور
- پښتو اکيډمي بک شاپ پېښور پوهنتون
- يونيورسټي پبليشرز قصه خواني پېښور
- طاهر بک سنټر شير خانه پلی، ملاکنډ
- پښتوخوا کښې دَ کتابونو هر ښهٔ دکان
- برېښنايي کتاب — پښتو وېب پاڼه www.pukhto.net <--




www.pukhto.net

# ترون

- د دواړو جهانونو دَ سردار حضرت محمد (ص) په نوم چې انسانيت ته يې دَ انسانيت معنی اوښودله

- د خپلې ناروغه مور په نوم چې دَ اولاد دَ جدايئ غم اورنځوله

ځار يوسفزے



www.pukhto.net

# ځار یوسفزے

ځار یـوسفزے زما په هغه کشرانو کښې دے څوک چې حقیقتاً په ما ډېر ګــران دے .خوش ګفتــاره ، خــوش لباسه ، نــرم خویه ، خنــده رویه او دَ ښهٔ کړهٔ وړهٔ خاوند دے . دَ خــبرو دَ ملک فتح کولو دَ پاره یې دَ شعر لاره نیولې ده ، ولې دَ علم دَ بلندئ دَ پـــاره ورته لا وخت شته ‌ سـوچه ژبه ، هنـــــري استعداد ، تانده جذبه او واضحه مقصد به ځار یوسفزے تـر خپل مرامه رسوي . دَ نورو لارو چارو دَ لټون ورته هېڅ حاجت نشته . دَ علم او فـن او نظـر او بصر دَ اضافــې دَ پاره چې څومــره مطالعه او مشاهـــده ضروري ده ، دومره اهمیت مکالمه هم لـــري . یعنې دَ سـړي ناسته ولاړه دې دَ داســې خلکـــو سره وي ، دَ چانه چې دَ علـم او هنـــر نېغ په نېغه دَ منتقل کېدو احتمال وي . اوس زهٔ نهٔ شم وئېلې چې آیا ځار یوسفزي ته داسې ماحول حاصل دے ؟ له کومه چې دَ دهٔ په بصارت او بصیرت کښې په زړهٔ پورې اضافه کېدې شي ؟ او کنه دے په داســـې حال کښې ژوند کوي چرته چې دے هـر وخت دَ ذهني او قلبي الغاؤ تلغاؤ سره مخ وي ؟ بهر حال په



www.pukhto.net

دواړه صورته کښې دَ ځار يوسفزي فن ته دَ ودې مېلاوېــدو امکان شته. حالات موافق وي او کهٔ غېر موافق ، دَ ليکوال قلم ته رواني وربخښي .شاعر اديب ته خو دَ کر کــروندې دَ پاره زمکه پکــار وي . للمه وي کهٔ لوندهٔ ، کاړژنه وي او که خاورينه ، باقي کار دَ هنـر وي چې دے ورسره څهٔ لوبه کوي دَ خوش رنګه او خوشبويه ګلونو پټې پکښې لګوي او کهٔ دَ مېــوه داره ، سايه داره ونو بڼ ترې جــوړوي. ما پهٔ خپله دَ ځار يوسفزي ټــوله شاعري نهٔ ده لوستي ، بس غـــزل نيم شعردوه ، قطعه نيمه او يا دَ نظم څهٔ لـړه ډېره حصه مې چرته دَ سوشل ميډيا پهٔ ذريعه او يا پهٔ مشاعـــــره کښې دَ اورېدو تر حده تر نظره تېره شوې ده ،له دې کبله زهٔ دَ ځار يوسفزي دَ شعر پهٔ حواله خپله تنقيدي راى نهٔ شم وړانـدې کولے. بيا هم دَ خروار انـــدازه دَ چونګ دانو نه لګېــدې شي بس دومـــره به اووايم چــــې کهٔ چرې دَ نرګسيت او تادي ګرندۍ نه ځان اوژغوري نو زما يقين دے چې دَ ځار يوسفزي دَ پاره يو ادبي روښانه سباون سترګې پهٔ لار دے.

**بخت روان عمر خېل**

**مرستيال ليکوال "مل" ملاکنډ**



www.pukhto.net

دَ ادب پالنه هلته کښې ښهٔ کېږي
ځې چې ځو ملګرو" پام "پله به ځو

پښتانهٔ ادبي ملګري "پام " ملاکنـــد په ادبي دنيـا کښې خپل يو ځانګړے مقام ، نوم ، حېثيت او تاريخ لري .دَ دې تنظيم سره ډېر غټ غټ ادبي شخصيات تړون لري ، کوم چې دَ مقصدي ادب يعنې "ادب دَ پاره دَ ژوند" مکتبِ فکر خاوندان يادېږي .

ځار يوسفزے هم دَ "پام" ملګرے دے او ځان اوس دَ مصنفينـــو پهٔ صف کښې شاملوي او خپل اولنې کتاب شعري ټولګه "ژوند پهٔ دائره کښې" تاسو ته وړاندې کوي . دَ هغه شعر څنګه دے ؟ دَ هغه پهٔ ادب کښې څهٔ مقام دے ؟ او دَ هغه شاعري څومره ژوند او ژواک لري ؟ دا فېصله به تاسو پهٔ خپله اوکړی . زما پهٔ نزد خو ډېر ښهٔ شعر ليکي او خپل دَ زړهٔ آواز اولس ته پهٔ ډېر ښهٔ انداز سره رسوي او زما


www.pukhto.net

پهٔ خيال دا دَ پام د روزنې ، پالنې او خصمانې کمال دے او دا خبره زهٔ نهٔ کوُم بلکې ځار يوسفزے پهٔ خپله هم دَ دې خبرې قائيل دے او هغه خپله ټوله ادبي زده کړه دَ "پام" کمال او احسان تسليموي نو ځکه خو وايي چې :

دَ ادب پالنه هلته کښې ښهٔ کيږي

ځې! چې ځو ملګرو" پام "پله به ځو

خداى دې اوکړي چې دَ پښتانهٔ ادبي ملګري "پام" ملاکنډ ټول ملګري دَ خپلې ژبې ، ادب او ثقافت خدمت دغسې جاري اوساتي او دَ "پام" رڼاګانې لکه دَ نمر پهٔ هر لورې خورې شي آمين .

**ديدار طاهر**
**صدر "پام" بټ خيله**
۱۵-۰۳-۲۰۱۵



www.pukhto.net

دَ ځار يـوسفزي غزلـزارونه دَ جانانه محبتونـــو دَ سرو او دَ ژوندانه دَ تورونو دَ تور نه راکشيد شوي رنګونه لري . چې دَ موضـوعي او معروضي شعريت يو نا آشنا او ډؤلي امتـزاج ترې وجود بيا موندې دے .

دا ښاغلے دَ شاعـرۍ په خپلو څربـــو مزکو خاني کوي .او دَ تغزل دَ لونګو ګل منجرې فصلونه ترې اخلي ، دغه رنګ دَ ده دَ تخيل لاس دَ ښکلا دَ کهکشانونو دَ ژئيو نه ستـــوري راشو کولے شي ....

خو هنري الميه يې دا ده چـې دَ خپل فـن سره دَ خـــوارۍ په حـــواله دَ کـــړاؤ نه ډډه کوي . هم دَ دې امله دَ ځـــار يوسفزي دَ غــزل ځېنې شعـــرونه خو دَ علويت او ارفعيت دَ آسمانـــدرو معراج ته رسي ، ولې ځېنې نور شعـــرونه دَ دغه معيار خون کـــوي او دَ عدم تـــوازن دا عنصر دَ ده دَ غزل



www.pukhto.net

مجموعـي تاثر ته زښت زيان رسوي . زما پهٔ نــــزد کهٔ دغه "هنري ټکه" ځار يوسفزے دَ خپلې پام لرنې او زيار پهٔ زور دَ ځان نه ؤباسي نو زهٔ پهٔ وثــوق سره وئېلې شم چې دَ ځېنو معصــرو دَ چشمک او دَ تنقيص دَ غـرور بتــان به دل دوبې کړي .

**ډاکټر علي خېل درياب**
**چئيرمېن پښتوځانګه**
**ملاکنډ پوهنتون**



www.pukhto.net

دَ ملاکنډ دَ زرخېزۍ او ادب خېـزۍ خاورې دَ ځلمــي شاعر او صحافي ځار يوسفزي شاعــري او پهٔ خصوصي تــوګه آزاد نظمونه يې دَ بــوډۍ دَ ټال پهٔ شان پهٔ روماني فضا کښې رنګونه شيندي ، کهٔ يو طرف ته دَ فطرت نه دَ خپل وجدان عکسونو لهٔ رنګــــونه راغونډوي نو بل طـرف ته دَ ژوند دَ عکس هغه بــرخې هم پهٔ ګـوته کوي چې تيارو يا سپورو پناه کړې وي چې دَ زپلي انسانيت او پښتون قام دَ حق او بېدارۍ آواز پورته کوي چې زما پهٔ خيــال هم دغه عصري تقاضه ده .

**ډاکټر نورالبصر امن**



www.pukhto.net

ځار یوسفزے دَ ملاکنډ دَ جدید غزل ښکاره او نماینده لیکوال دے چې غزل یې یو ځانګړے اسلوب ، خوند او رنګ لري په فکري توګه دوی خپل غزل کښې رومان ، ترقي پسندي ، قام پرستي او اولسي مینه غوندې مهم موضوعات ځای کوي او هر څو که دا مضامین کله کله ډېر درانهٔ او سقیل شي خو دَ ځار یوسفزي فني مهارت دغه موضوعات پهٔ خپل نازک غزل کښې پهٔ هنرمندۍ سره راوړي. دَ ځار یو سفزي دَ غزل لفظونه ، ترکیبونه ، بندیشونه ، روزمرې محاورې ، ردیفونه او قافیې ټول د دوی د غزل فني خوارهٔ او جدیدیت برسېره کوي. دَ ملاکنډ دَ غزل پهٔ اوږد سفر کښې دَ ځار یوسفزي دَ غزل بخښنه ډېره مؤثره او دَ ډېرې ستاینې وړ ده چې مونږ ورسره دَ پښتو دَ جدید غزل پهٔ حواله ټولې هیلې تړلې شو.

**ډاکټر شېر زمان سیمابؔ**

**پښتو اکېډمي پېښور پوهنتون**

۱۶-۰۲-۲۰۱۵



www.pukhto.net

دا کار کؤل کهٔ زما دَ پاره پهٔ دې وجه ګران وو چې ځار زما دَ عصر شاعــر دے او زهٔ به ورسره هغه شان انصاف ؤنه کړې شم دَ کـوم نام او مقام چـې هغه حقدار دے .زما دَ ليکلـو مشکل دا دے چې ما دَ ځـــار يوسفزي تـــوله شاعري نهٔ ده لوستلې خو چې څومره مې اورېدلې او لوستلې ده نو هغه دَ پښتو متل دے چې:

"دَ نر ځوي ژړا پهٔ ځانګو کښې معلومېږي"

**ډاکټر زبېر حسرّت**



www.pukhto.net

يو خوا کۀ دَ شـــوروي اتحاد د ماتېدني پۀ وجه نظرياتي مباحثـــې ته زښت زيـــان اورسېد ، بل خوا دَ ثقافت هغه اقدار او اوصاف کوم چې وړاندې دَ حمـزه شينواري دَ غزل پېژندګلـي وه ، دا پۀ نـــوي شاعرۍ کښې پۀ لوی مخليد کښې راڅـــرګند شو ، خو دې سره سره چـــې يو بل بنيادي رجحان دَ انفـراديت پېدا شۀ چې دا قسمه رجحان له کبله يو وجوديت او تجربيت ته هم لاره پرانيستلـــې شوه . دَ ځار يوسفزي شاعري هم پۀ مجموعي تـــوګه دَ اثراتو نه تشه نۀ ښکاري لکه دې شعر ته دې ځېرنه اوشي :

ماته چې څومـــره ښکارېده دَ فاصلـــــې ښکلا وه
چې ورنيزدې شومه ښکلا هيڅ پۀ يو څيز کښې نۀ وه

نوي شاعرانو کښې ځار يـوسفزے هم يو پېژندګلي نامه ده چې دَ تېرو څو کالو راســـې يې خپل ليک ، تخليـــق تاند و بهاند ساتلے دے . دَ نوي شاعرۍ اساسي ( Basic Composition ) رغښت دَ رومـان و انقلاب نه دے او بيا د شوروي اتحاد دَ



www.pukhto.net

ماتېدني نه پس دې کښې آئيډيالوجي تر ډېره حده دَ ثقافت توکې دَ پاره هم ځای پرېښــودو .دَ ځـــار يوسفري شاعرۍ کښې هم دَ دې ذکر شوې توکيو شتـــون ښايــي چې هغه د عصري ادراک او زماني شعور نه محرومه نهٔ دے .دې سره دَ نوښت پهٔ حواله دَ هغه فني فکري هڅې هاندې هم مونـږ دَ هغه شعرِ مستقبل نه هيله مند کوي.

**فېصل فاراںؔ**

**مانکی صوابي**



www.pukhto.net

# ژوند ، دائره او څار يوسفزے

دَ نيازبين ملګري څار يــوسفزي دَ شعر دا کرښه چې :
ستا محبت هم دے ، انا راباندې هم ګرانه ده
په وړومبي ځل ما اورېدلې ده نـــو په حافظه مـــې نقش شـــوې ده .دغې نه علاوه چـــې ما دَ هغهٔ کـوم شعـــرونه اورېدلي دي نو زما باور يې په دې خبره پوخ کړے دے چې دَ هغهٔ انا هغه دَ محبت نه نهٔ رانيسي خـو دَ عقيدت په نـوم يې دَ انساني جذباتو دَ مفلوج کولو او منجمد کولو نه البته رانيسي . محبت دَ کائناتو دَ جوړښت دليل ګــرځېدلې وو او عقيدت په کائناتو دَ جمود جواز جوړ شوے دے او انا به يې دَ زوال سبب ګرځي ..... ژوند دَ ادم ، جنت او شېطـــــان تر منځه دَ مثلث نــامه ده ۰ دا مثلث نامياتي دے نـو ځکه يې درې واړه اړخونه دَ کرښو په ځای دَ دائـــرو نه جوړ دي او دا دائرې هم په خپل ځای په لفظونو او معنو اډانه دي .
محبت دَ زړهٔ نه راؤختو او په سترګو کښې دَ ځلېدو په ځای دَ ژبې په سر پاتـــې شو ، عقيدت دَ روحانيت بـارګاه نه دَ



www.pukhto.net

دَ مادیت په دربــار کښې مختـــورن اودرېدو او انجام کار انا
په هر څۀ دومـره خـــوره شوه چې جنت يې هم اوسپزلو . دَ
ادم زو زاد ځان په انا کښې راؤنغښتـو او خپل دوه ګـزه قبر
پراخه کولو دَ پاره يې ويــره دنيا په ځان تنګه کــړه او په
نورو هم. هغۀ دَ جنت تشريح دَ انا په معنيو کښې اوکړه او
زمکه يې اور کـــړه. هغۀ محبت ؤنۀ پېژنــــدو نـــو دَ جنت
سرچينه مذهب يې دَ مرګ جـــواز ؤګرځېدو. هغۀ دَ جنت په
مفهوم پوهه نۀ شـــو نو وطن يې مقتل جوړ شو او هغۀ دَ
ادم دَ مينې په حـرمت پـــوهه نۀ شو فساد له يې دَ عبادت
سپېڅلي نامه ورکړه .

دَ مثلث په زاويـــــو کښې تناسب ځـــان اوبئېلو او ځکـــه
ټولنې هم اعتدال او زغم د لاسه ورکړل. دې حالاتـو کښې دَ
لفظونو حرمت ساتونکو باندې زياتې ذمه وارۍ راغلـــې او
يو ځل بيا تاريخ هغوئ نه غـــوښتنه اوکړه چې دغه مقتل
کښـــې خپل سرونه اوبائېلـــي خو خپل لفظـــونه دَ ژوند
علامتونه کړي .

دَ نيازبين ملګري ځار يوسفزي لفظونه دَ ژوند علامتونه دي
هغه هم دَ لفظونو دَ حرمت ساتونکې قبيلې يو ځوان ، تاند


www.pukhto.net

او ویاړمن غړے دے او دغه مقتل ته دَ خپل ټول پښتـــون جلال او جمال سره راغلے ولاړ دے.

زمونــړ په وړاندې دَ هغهٔ وړومبـــې شعري کتاب"ژوند په دائره کښې" پروت دے او دَ دې هر لفظ ګواهي ورکوي چې هغه دَ اعتدال او زغم راوستلو دَ پاره دَ دلیل او منطـق په صف کښې ولاړ دے ، خپل احساس له یې ژبه ورکړې ده او په جار وایي چې :

دَ تـــورې شپې دَ شـــوګیرے تصویر سحر له راوړم
په خپلو سترګو کښې دا غني احساس نمر له راوړم

قام بیا وطن
**حیاتّ روغانے - وړدګه**
۲۷-۰۲-۲۰۱۵

فن پهٔ خاص توګه شاعري او ادب همېشه دَ فنکار ترجمان وي. هم دا خبره پهٔ ځار یوسفزي سل پهٔ سله پوره ده .ځار یوسفـــزے چې څومره ښکلې دے داسې یې شاعـــري هم ښائیسته ده. څومره چې ښهٔ سړے دے دومـره یې شاعــري ښهٔ ده او چې څومـــره خوږ دے هغه هومـره یې شاعــري خوږه ده .

دَ ځار یوسفزي دَ شاعرۍ نه دا خبره څرګندېږي چــې دا دَ یو پـــوهه تعلیم یافته ، باشعـــوره او دَ ډېر لوستونکـــي سـړي کلام دے ځکه خو پکښـــې دَ فلسفې سرسري لهرونه ښکاري .دَ ځار پهٔ شاعرۍ کښې دَ انسانـي ســوچ اوفکر دَ پاره تازیانې هم شته او دعوت هم . دَ ده پهٔ شاعرۍ کښې نـوي تشبیهات ، استعرات هم شته او دَ معنوي یو جهان هم . ځکه خو زما پهٔ خیال دَ ځار شاعري دَ مطالعې سره پهٔ غور و فکر ارزي نهٔ چې دَ اورېدو .



www.pukhto.net

دَ ځار دَ شاعرۍ ډېره کمه برخه دَ اولسي مشاعرو یا دَ موسیقۍ جوګه ده هم دا دَ ځار دَ شاعرۍ کمے دے چې دې دَ خواصو او پوهه خلکو شاعر دے. اولسي رنګ یې پهٔ شاعرۍ کښې ډېر کم دے خو کېدې شي چې مستقبل کښې انشاء الله پهٔ استاذانو کښې ځان له ځای جوړ کړي .

زما دا دعا ده چې دَ ده دا کړاو او زیار دې.الله پاک دَ پښتو ادب باغچه کښې یو ځلنده ، خوشبوداره او ګټه ور ګل کړي آمین.

**محمد جمیل کاچو خېل**

آله ډنډ



www.pukhto.net

# گفتِ خیام

دَ ځار یـوسفزي شعر پهٔ ټــولېزه تـوګه د کړکېجن حالاتـو محور دے او بیا دَ مینې طــوفاني ګردابونــو پهٔ مخه کړے شاعري یې دَ راګونـــو پهٔ مثل لکه دَ تېوَر او کومل سرونو پهٔ څېر پهٔ اورېدونکو ښهٔ مانا پورې اغیز شیندي او زړونو کښې لار کــوي . زړهٔ یې دَ خــوږو خــوږو سندریـزي نغمــو تالونه او چالونه شورَوي .وجداني ټهاټهــونه یې لکه دَ سونو راګونــو هر رنګه طبیعت او مزاج لري .شاعري یې دَ قام ، اولس او دَ ژوند ژواک دَ پېښو عکاسي کوي ، شاعري یې کره ده خو پهٔ دې مانا نهٔ چې ځار دې دغه سوبمنتوب دَ خپل ادبي یون منزل اوګڼي .

دَ ګرېـــوان څېرل منزل نهٔ دي مجنـــونه
لا پهٔ لار کښې نور دَ مینې مقامات شته

**خیاؔم یوسفزے**

**مدیر اجرایي دَ پښتو ډاټ نېټ وېب پاڼې**

۲۳-۰۲-۲۰۱۵



www.pukhto.net

## ځار دَ ژوند او جانان په آئینه کښې

دَ ژوند او جانـــــان الفاظ صرف الفاظ نهٔ دي. بلکې دَ ژوند کردارونه دي کوم چې دَ بني آدم دَ پـرمختګ پهٔ تاريخ کښې ډېر اهميت لري . هر قـــوم پهٔ خپل وخت او زمانه کښې تـر خپله اوسه پوره پهٔ دې حواله ډېر زيار کړے دے . ولې پښتنو اتلانو چې دَ دې کــردارونو څنـــه سترګه پهٔ کــوم خلوص محبت او اخلاص سره کړې ده هغه حقيقتاً ژوندے او مثـــالي حېثيت لري . هغه کهٔ دَ ژوند دَ مېدان شهســوار وو او کهٔ دَ لوک داستانونو تر محبتونـــو زړه ور ... دواړه ډلـــو خپل خپل ځانونه پهٔ دنيا منلي دي . دَ پښتنـــو دَ زوړ تاريخ نه تـر نوي پورې دغه کـــردارونه پهٔ هر دور کښې ډېــر زيـات ښکاره او واضحه دي. پير روښـــان سره دَ خپلې ډلې او خوشحال بابا دَ دريا خان او مېرويس خان سره دَ چانـه نهٔ پټ دي او نهٔ هېر دي. او دغه شان دَ جانان پهٔ حـــواله دَ آدم خان درخانئ نه تر يوسف خان شېر بانو ، مومن خان شيرينـــۍ او مـوسى خان ګل مکئ پورې دَ جانان کردار ژوندے او ډېـر روڼ ساتلے شوے دے چې نن هم پهٔ دې پهٔ ځای نوي نسلونه فخــر کولې شي.



www.pukhto.net

دَ ژوند کردارونو يعنې ژوند او جانان ته پښتنــو شاعرانو او اديبانو هم بلها بلها دَ زړونو تورې وينې نذرانه کړي دي او دَ قومي وقار دَ برقرار ساتلو پهٔ هڅه يې پهٔ شعوري توګه دَ زړونو دَ زخمونو ډيوې يې بلې ساتلي دي پهٔ دې حواله هم دَ زړو شاعرانو او اديبانو تر دے وخته پورې چې کـوم افکار او تخيلات دَ کاغذ دَ مخ سره سره دَ هوا پهٔ چپو عوام الناس ته را رسېدلي دي . دَ هغې له برکته نن هم دَ ژوند او جانان کـــردارونه ډېر زيات زړهٔ راښکــــونکې او بې مثاله دي. دا خيالات او تفکـــرات دومره زورور دي چې دَ جذبې جنون نهٔ سکون ته پرېږدي او نهٔ مړ کيدو ته . دَ دې خاورې پهٔ ذره ذره دَ دغه کردارونو تصويرونه جوړ دي او هر راتوکېدونکې نسل ته يې دَ خپــــل ذوق او اهميت پهٔ متـــو لګيا دے استفاده کوي .

زمونږ دَ دور دغه قافله هم دَ خپلو اتلانو پهٔ نقشِ قدم برابر روانه ده سفر کوي او دَ ژوند جانان دَ کردارونو پهٔ زنه،تندي او اننګو دَ خپلو تودو وينو خالـــونه دَ لېونو جذبو پهٔ زور ږدي بلکل دَ نن دور دَ تقاضــې سره دَ جدت دَ اصولو پهٔ رڼا کښې يو تېز و تند سفر جاري دے.



www.pukhto.net

کۀ رحمت شاه سائلؔ ، درویش درانيؔ ، ډاکټر خالد زیارؔ ، محمود ایازؔ او علي اکبر سیالؔ دَ قافلـــې پۀ دغه سفـــر کښې دَ سر لښکرو کردار لوبوي نو ځارؔ ،دیدار طاهـرؔ ،شفق صابـــرؔ ، اصف خان اصفؔ او نـور ملګري هم تر خپله اوسه نشـــان پۀ لاسو اوږه پۀ اوږه دَ دغه مشرانو سره برابر زیار کوي .

ځارؔ صیب نۀ صرف یو خوږ ژبې شاعر دے بلکې یو ډېر متحرک منتظم او کلک ورکـر هم دے هغۀ چې دَ خپلو لېونـــو جذبـــو ښائیست دَ خپل ځانګړې تخیل پۀ ګوتو پۀ کـــوم انتظام او انصرام سره دَ ژوند او جانان دَ کـــردارونو پۀ خدو خال شیندي دا یو ډېـــر دَ قـدر وړ زیار دے ځکـه چې هغه دَ خپل عمر او تجربې نه یو نۀ بلکې سل قدمه مخکې مخکې روان دے او پۀ هر پړاو دَ خپل فن او هنر یو بې مثله نـذرانه پېش کوي ، زما کامل یقین دے چـــې دا کوشش او پـر مختګ به ځارؔ صیب دَ مستقبل دَ ادبي تاریخ لیکونکو پۀ زړونو او ذهنونو کښې لکه دَ بلې شمعې ژوندئ ساتي .

خدای دې اوکړي چې ځارؔ صیب نور هم چابک ، چمتو او دَ هغه قلم نور هم تېز او تېره شي چې دَ پښتـــو دَ ادب ګلستان پرې



www.pukhto.net

همېش ترو تازه وي. دَ ځــار صېب دا کتــاب اګــرچه دَ هغه اولنې قدم دے خو مونـــږ ترې نور هم پهٔ زړهٔ پورې امېـــدونه لرو هغه ورځ لرې نهٔ ده چې دا ځانګه به لکه دَ کـــورې ونې نوره هم ډېره زياته ګل شي.

**نور محمد مشالؔ**

**پېښور**

۱۱-۰۴-۲۰۱۵



www.pukhto.net

# ځار د ملاکنډ

دَ ملاکنډ دَ سیمې جوړښت پۀ خپله دَ ښائیست او ځوانمردۍ هنداره ده. دَ دې سیمې تاریخ هم دَ دغه ښائیست او ځوانمردۍ پۀ ترځ کښې دَ خپل ښائیست سره سره دَ جنګیالو دَ مړانې قیصې هم بیانوي دغه سیمه کښې یو اړخ ته دَ معصومې ابۍ ، هارون ، سرتور فقیر او دَ نورو داسې اتلانو قیصې پۀ خپله لمنه کښې ځایولې دي نو بل اړخ ته یې دَ پښتو ښائیسته تندي له دَ عظیم راڼیزۍ غوندې ښائیسته ټیکونه هم پېدا کړي دي . دَ ملاکنډ دَ سیمې دَ پېغلو دَ ازادۍ دَ جنګ دَ ټپو انګۍ اوس هم دَ دغه دنګو غرونو پۀ سختو کاڼو کښې اورېدې شي.

پۀ ملاکنډ تیارې خورې شوې
هارونه توره برېښوه چې رڼا شینه

دَ پت نه ډکه دغه قیصه یواځې دَ جنګیالو اتلانو قیصه نۀ ده. دَ دغه ښائیسته غرونو ښائیست دَ دې سیمې دَ شاعرانو ادیبانو او هنرمندانو پۀ لیکونو او فن پارو کښې هم خپل عکس ثبت کړے دے .



www.pukhto.net

رحمت شـــاه سائلؔ ،اروابناد عبدالحکیم قــادريؔ بابا ،اروابناد مولانا محمد اسـلام اجملؔي ،اروابناد اخــون فامؔ جان ،اروابناد شېر زمان ماهـــرؔ ،اروابناد پروفېسر صاحب شاه صابرؔ ،محمد اسلام ارمانؔي ، پروفېسر نواز طائرؔ، ډاکټر خالـــق زیارؔ،علي اکبر سیالؔ ،ډاکټر علي خېل دریابؔ ،تجمل حسېن قائلؔ ،نــور محمد مشالؔ ،محمد رحیم رحیمؔ ،بشیر احمد قاصرؔ ،دیدار طاهرؔ جمعه الرحمـان افګارؔ ، برادر خان عاطرؔ یــوسفزے ،ښائېسته رحمان دلســوزؔ ،بخت روان مضطرؔ ، بخت روان عمرخېل ،احمد مخلص ،فضل سبحان عابدؔ ،امـیر رزاق ساحلؔ ،زرنـوش شهابؔ مکرم خان سباؔ ،شاذوﷲاسیرؔ ،اباسینؔ یوسفزے ، صدبر بېتابؔ او نور بې شمېره داسې رهبران دي چې هغوئ دَ دې سیمـې دَ ادبي هلو ځلو نه پهٔ تنظیمي توګه غور رنګ جوړ کړو. دَ دغې تنظیمي تحــریک دَ ژوندي ساتلو بــرکت وو چې دَ ملاکنـــډ سیمې دَ باشعوره ځوانانو یو لوی ادبي لښکر پېدا کړو . دلته دَ دغه ځلمو ذکر خـو کېدې شي خــو پهٔ بیله بیله تـــوګه دَ هغوئ تذکره یو ځان لهٔ کتاب غواړي ځکه چې دغه شاعران او لیکوالان یقیناً د معیــار پهٔ توګه دَ پښتـــونخوا دَ هــرې سیمې دَ معیار نه کم نهٔ دي.



www.pukhto.net

هم دَ دغه ځوانانو په ټـولي کښې ، په دغـه چاپېرچل کښې دَ ښکلې انداز او خوږې ژبې شاعــر ځار يـوسفزے هم دے. ځار دَ ملاکنډ دَ ښائيست ترجمان ، دَ دنګو غـــرونو دَ ننګ دَ قيصو راوي او دَ درد دَ ساندو سنـدرغاړې دے ځکه چې هغه په خپله ښکلې شاعرۍ کښې دغه ټول توکې لري. ډېره دَ خــوشحالۍ خبره ده چې ځار صېب خپل کتاب دَ "ژوند په دائره کښې" په نوم چاپ کوي. دا به يقيناً دَ پښتو ادب په پنګه کښـې يوه قيمتي معياري اضافه وي زما هم دا خـوش قسمتي ده چې په دغه شاعرۍ باندې دَ تبصرې اعزاز راته په ګوتو شو خو دَ ځار لهٔ طرفه دَ لګولي قدغن لهٔ مخه دَ هغه په بيل بيل شعر او دَ هغې په پس منظر نهٔ شم ليکلے خو دَ ځار دَ شعرونو په نمونو کښې دَ يو عمومي تاثر په ګوته کول به دَ اختصار دَ پاره ښهٔ وي.

دَ ځار په شاعرۍ کښې دَ ملاکنــډ دَ ښکلا رنګ ، دَ پښتنـو پت او قامـــي وياړ او دَ نن په مجبـورو حالاتــو دَ ساندو اسلوب ښکاره دي. دغه ټـــولې نخښې به تاســو په خپله دَ هغه په کلام کښې محسـوس کړئ او په تېره تېره دَ ننې کـړکېچنـو حالاتو په تناظر کښې چې ښائيست څنګه داغـدار شوے دے.



www.pukhto.net

دَ څار په شاعرۍ کښې دغه احساس ډېر برسېره دے :

زهٔ دې هم داســې گلــورينه گل بدنه غـــواړم
خبـــر کهٔ ما وژنـــې خو قيمت دې دَ ادا اوساته

څار دَ پښتني ويارِ پاسلنه او پالنه ډېر په ښکلې شان دَ مينې اقرار سره ترې . هم په دغه غزل کښې وايي :

هــــره چينه گـــورې دَ تندې ماتـــولو نهٔ وي
تندې کهٔ هر څهٔ کړې خو خيال مې دَ انا اوساته

په پښتو شاعرۍ کښې ډېـرو ښو ليکوالو ډېر ښهٔ اثر پرېښے دے په دغه لړ کښې دا دَ ملاکنـــډ خوشبختي ده چې دَ سائل صېب غوندې ليکوال لري. رحمت شاه سائلؔ دَ دې دور داســې شاعر دے چې څلمي کول په ليک ژور اثر لري. دَ دغـه اثـــر يوائې دَ ملاکنډ پورې محدود نهٔ دے ، په گـــرده پښتونخـــوا کښې دے خو بيا په ملاکنډ کښــې دَ څار صېب دَ خپل کلي دَ ځوان کول نمائنده شاعر اکبر سيالؔ هم دَ ځوانانو ليکوالو په ليکونو دَ تعليم يافته رجحان خاپونه پرېښي دي. دا داســـې خبره ده چې زمونږ دَ نوي نسل دَ شاعرانو اسلوب جوړوي . هم دَ دغه تاثر لاندې څار دَ خپل وطن دَ خـــواريکښت پيکه ژوند



www.pukhto.net

هم دَ جمال په داسې ټکو کښې رانغـــاړي چـــې دَ لوستونکـو تنده پرې ماتېږي :

پۀ ســور تړاق کښې ســـوزېدلے جل وهلے مـــزدور
بلها سوالونه پۀ لېمو کښې ځای کړي نمر ته ګوري
هــر يو انسان دَ خپل فطرت پۀ آئينه کښې ښکاري
دا ځېنـــــې نۀ کــــــوي دَ خېر خــبره شر ته ګوري

ځار دَ هاغه برجونو ادراک هم لري دَ کومو نه چــې خلک دَ دنيا رنګ او بې رنګۍ ته کتې شي :

هر يو سړے دَ خپل غرض پۀ معنی ښۀ پوهېږي
دَ محبت ملنګ  دَ يار دَ کــوڅې خېر غـــــواړي

او پۀ دغه غزل کښې ځار دَ پښتني کلتـــور دَ بقا پۀ حقله څۀ داسې فکر څرګندوي :

پۀ دې خفه يم چې ځالونه چــرنه اونۀ بئيلو
پښتون دې هر وختې دَ خپلې ټپې خېر غواړي

پۀ بې ايمانه قامـــي ژوند کښې دَ مقصديت غـــږ دَ دې وخت غوښتنه ده او دا غــــږ خپل اولس لۀ هم يو بېـــدار شاعــر



www.pukhto.net

ورکولے شي:

ستاسو دَ یوې کرښې بلها معنې دي
راښکل به غــوارِي لېــــونو کرښې

دَ ځار دَ شاعرۍ یو ښائیست دَ روزمره استعمال دے:

زما پهٔ ســـر چې ځلې درب شو نو ورياد شـــــوم ورته
اول يې نهٔ پوښتلم او اوس مې پهٔ قيصو کښې ګوري

ځار دَ یو لوستي ، پوهه او باشعوره وګړي پهٔ توګه دَ چاپېرچل دَ رنځونو پهٔ حقله فکرمند دے. هم دغه فکر اولسـونو لهٔ پهٔ خپلـو راپېښو کشالو بېداري ورکوي او پهٔ هلو ځلو یې امانده کــــوي. ځار هم خپل اولس لهٔ څهٔ داسې غږ ورکړے:

چې ګناهکــــــار او بې ګناه پهٔ یوه تله تلــــــي
دَ دې نظام دَ خــــــــــرابتیا خبره چا اونهٔ کړه
دا غربو نيولے احساس ، دا دَ نم نه ډکې سترکې
ژړا ژړا ده ، دَ خنـــــــــــدا خبره چا اونهٔ کړه

زما یقین دے چې لوستونکــي به ما دَ څهٔ کمــي دَ پاره ځکه معاف کړي چې زهٔ دَ وطن نه لرې پهٔ مسافــرۍ کښې ژوند

کؤم او په مسافرۍ کښې دَ خپلو ملګرو دَ محفلونو نه سړے محرومه وي . دَ ځار صيب دَ شاعرۍ د ټولو خزانو نه خو زۀ دَ دغه زړۀ چاودې مسافرۍ لۀ کبله محــرومه يم خو دَ هغه دَ شاعرۍ په عمومي هئيت ( General Form ) چې دَ هغه دَ شعرونو په لاس راغـــلي نمونـــو په بنياد ما څۀ ليکلـــې شول هغه ستاسو دَ وړاندې دي . زما يقين دے چې دَ څۀ قسمه کمے دَ پاره به ماته بخښانه کوئ. ستاسو دَ بخښانې په طمع .

**ذاکر حسين**

**مانچيسټر انګلينډ**



www.pukhto.net

# خپلې خبرې

لوی سختن تخليقـــي صلاحيت پۀ انسانـــي فطـرت کښې ځايـولے دے او وخت پۀ وخت انســـان دَ دغــې فطـــري صلاحيتونو څـرګندونه کوي...شاعري هم يو فطـري جوهر دے ..... بلها احساسات او جذبات چې اولړزېـــږي نو موذون توري وجود بيا مومې ...... دَ مطرب هنري ګوتې دَ تار دَ زړۀ نه خپل پټ درد را اوباسي....دَ انځورګر مو قلم دَ رنګونو پۀ ژبه دَ کينوس پۀ مخ چې څۀ اوباسي دَ هغې شاته يو پوره جذباتي الغاو تلغاو وي .... او شاعر چــې يو تورې پۀ سينه کښې تغزل ، موسيقيت ، موذونيت ، قبـوليت او مغموميت پېدا کوي نو هغه دَ ارزښت او تــــوش دَ فکــري کړمو نه راتېرېږي .... تخليق دَ عدم نه موجود ته راتلل دي او دَ عدم نه موجود ته راويستل يقيناً چې ډېر ګران کار دے . تخليق کار لار اوباسي او تنقيـــد نګار پۀ دغه لار کښـــې کږه او نېغه ګوري ....ما هم ډېـرې کږې لارې ويستلــې دي چې د تخليق اعلی معيـــار ته نۀ رسي خو ســړے پۀ وس پړ وي انساني تخليق کامل نۀ شي کېدې ، کمے زياتـــې به ضرور



www.pukhto.net

لري" ژوند په دائره کښې" بشـــري تخليق دے او بشـــري کمزورۍ به پکښې وي. دَ هغې به بخښنه غواړم.
زهٔ دَ حاجي فضل الرحمان ( لالا جي)، جاوېد خان لالا، منـــور شاه صېب (ډائرېکټر ايس پي ايس سکول سسټم)، ثنا الله صېب ( پرنسپل ايس پي ايس سکول بټخېله کيمپس)،حاجي ناصر حيات خان ( ايم ډي بهـادر خان روزي خان مېمـــوريل هسپتال)، عزيز احمد اېډوکېټ (طوطه کان)، اقبال حسين ( پرنسپل رحمان پېرامېډيکل)، امجد علـــي خان ( ډائـــرېکټر اکسفورډ اېجوکېشن اکېډمـــي)، رفيع الله خان، تېمـــور خان اجمل شاه سقيمؔ، عزيـــر خان شمالؔ، ګوهـــر علي ګوهـــرؔ، حنيف قيسؔ، ناصـــر خان، شاهد ګل، وسيـــم خان، محمد عدنان، حېدر دوست، شفيع الله خان، پښتـــانهٔ ادبي ملګري "پام" او دَ هغه ټـــولو ملګرو مننه په ځای راوړم چا چې په دې کتاب ليک کړے دے او چا چـــې زهٔ دې کتاب ته هڅولې يم او زما ډاډ ګـيرنه يې کړې ده. خصووصي مننه دَ ګران ملګري خيامؔ يوسفزي چې دَ دې کتاب په رغونه او جوړښت کښې يې پوره زيار کړے دے ... دَ بخښنې په هيله

**ځارؔ يوسفزے**

بټ خېله ملاکنډ

# حمد

چې احاطه ستا د لويې پرې اوکړم
حق دَ ثناء به دې ادا څنګه کړم
چې دَ شهود وجود معنیٰ پرې اوکړم
دَ "فيکون" فلسفه هم ؤسپړم
"اَحَدْ صَمَدْ" دَ کائناتو محور
يوه قطره او بې پايه سمندر
چې احاطه ستا دَ لويې پرې اوکړم
دا سې الفاظ ربه له کومې راوړم



www.pukhto.net

# نعت شریف

هم جلال دے هم جمـــال دے محمد (ص)
لا ثـانــــي دے بې مثال دے محمد (ص)

ټول همه ښائيست ښائيست ښکلا ښکلا
بد رنګـــــــی لره زوال دے محمد (ص)

دے جـــواب يې دَ ورو لويـــو سـره
چې اســان دے داسې سوال دے محمد (ص)

تور تمـــــــونه کـړه دَ ذهن نه بهــر
دَ رڼـــا عجيبه خيـــال دے محمد (ص)

مهٔ وېرېـــــږه دَ ظلماتـــو لهٔ وحشت
پهٔ تيـــارهٔ کښې بل مشال دے محمد (ص)



www.pukhto.net

دَ اخلاقــــــو یوه کاملهٔ نمــــــونه
دَ اخلاقــــــو پهٔ کمال دے محمد(ص)

مرتبه دَ شفـــــاعت یـې ده خاصه
دَ یـــــــر نیازبین دَ ذوالجلال دے محمد(ص)



www.pukhto.net

درد مې ځيګــــر نيولے
تنـــــــدر قمر نيولے
دَ يو نظـــــر دَ پـــاره
لېـــــونۍ ور نيولے
راشه محل ترې جوړ کړه
زړهٔ مې کنـــډر نيولے
دَ نفرتونـــــو فصل
سمه او غَـــــر نيولے
دې لوړو دنګو مانـــــو
زمونـــږ نه نمـــر نيولے
رقيبـــه ! لاس دې آزاد
ما هم سنګـــــر نيولے

داسـې نازونه پرې وړې
ځار يې نوکـــــر نيولے


www.pukhto.net

◇

فطـرت مې دَ خـوبانـــو بندګي کولے نۀ شوه
بس ما پۀ تيتـــو سترګـــو زندګي کولے نۀ شوه

مـــرغۍ به خامخا دَ خپله سېله بېلېـــدله
پۀ ماتـــو وزرونـــو يې سيـــالي کولے نۀ شوه
دا چا زمونـــږ دَ امن او ښکلا مرۍ پرېکـــړې؟
لۀ وېـــرې نه دې خلکـو ګـواهي کولے نۀ شوه
زما مرګ خو تيارۀ نۀ وه ، زما مرګ خو رڼا وه
آســـانه فېصله وه خـــو قاضي کولے نۀ شوه
دا واګې د اختيار يې ځکه بل له پۀ لاس ورکړې
خان جي زمونـــږ دَ کلي چې خاني کولے نۀ شوه

نو داسې دَ حالاتو زولنۍ دي وې پۀ پښو کښې
دَ ځـــار سره چې مينه دې ښېخي کولے نۀ شوه



www.pukhto.net

◇

دے لېونتـــوب لۀ مې يـــوه نـــوې سلسله پکار ده
دَ مينـــې درد لۀ خـــولا نـــــوره حوصله پکار ده

چـــې تۀ زما يې او کۀ لاس به ورکــــــوې رقيب لۀ
وخت دے راغلے بس اوس دغــــه فېصله پکار ده

چـــې لېونتـــوب يې دَ منزل دَ سر نه ، نۀ کوزيـــږي
پُښتـــــون اولس لۀ يـــوه داســـې قافله پکار ده

پۀ داسې نۀ کېـــږي لمن دې دَ ســـوال مۀ غــــوړوه
کۀ ځـــــان ګټل غـــواړې سپېڅلې ولوله پکار ده

مدام دے خلقـــو تماشــــــې دَ لېونـــو کـــړي دي
زۀ وايم اوس دے لېـــونــــــو لۀ تما شه پکار ده



www.pukhto.net

بې دَ پېسو نه چـــرته کېـــږي راحتــــــونه دَ ژوند
دَ ژوند راحت لۀ خـــو بې دریغه ســـــرمایه پکار ده

چې پهٔ خلۀ پوست وي پهٔ زړهٔ روست وي هغه اوپېـــژنه
دَ داســـې دوست نه ګــــوري ځاّره ! فاصِله پکار ده

زغم

دا دَ اظهار لمبـــې چې بلې پهٔ ګوګل کښې وژنم
زهٔ دَ جذبو انسان هر ځل دَ زړهٔ پهٔ تل کښې وژنم
هغـــې ته پته ده چې ماته پکښې ساه ډوبیږي
خوروي زلفـــې وایي تا به پهٔ ځنګل کښې وژنم


www.pukhto.net

لیکمه څو خبرې دَ زندان په دېوالونو
چې ولې سَر وهمه دَ هجران په دېوالونو

دَ خپل غربت قصه به درته دومره قدرې اوکړم
بس اوګوره زما وینه دَ خان په دېوالونو

دَ کلي په کوڅو کښې دَ وحشت خبرې کېږي
څۀ بل شانې کوؤمه اوس ګمان په دېوالونو

تۀ چرته یې دَ زړۀ دَ کور تمبه بېرته پرته ده
راوا وړیدو دَ زړۀ سره طوفان په دېوالونو

اوس ګرځمه زۀ هاغه دَ الفت لېونے ګورم
لیکۀ چې به بې نوم دَ خپل جانان په دېوالونو



www.pukhto.net

بیلتون خو سپېره مخې دے بې کچه تنګ نظر دے
تنګیــــــــږي به زما وروره دالان پهٔ دېـوالونو

دا ځـاَر دې دَ ستم غشــــو ته دغه رنګ ولاړ دے
وریــــــږي لکه څنګه چــې بـــاران پهٔ دېـوالونو

## بیا هُم کېدے شي

دَ یو سـړي پهٔ مئینتــوب باندې موقـوف خو نهٔ ده
مینه ژوندی او سېږي مینه خو بیا هم کېدے شي
تهٔ دَ کمر دَ زړهٔ " و لې" دَ پئیــو هم اوبـــاسه
تهٔ که فرهاد یې نو شیـرینه خو بیا هم کېدے شي


www.pukhto.net

زما دَ فـــن عظمت کهٔ منـــې نو بيا
دا تنګ نظـــره اعتراف دې اوکړي

دَ محبت دَ لمبـــې خوند کهٔ اخلـــي
نو دَ پتنګ پهٔ شـان طواف دې اوکړي

دَ ظلم زور دَ وطن مٔلا ماتـــوي
واکدار ته اووايه انصاف دې اوکړي

زما دَ ذهن نه دې تا اوباســـي
څوک خو قصه دَ کوهِ قاف دې اوکړي

چې حق خبره اورېدے نهٔ شـي څوک
دَ ځـــار سره بيا اختلاف دې اوکړي

چې دَ مينې دَ جذبې سترګې ړندې دي
خود به وي دَ حادثې سترګې ړندې دي

غل چې ساد دے او دَ ساد ګمان پهٔ غل دے
دَ نظام دَ آئينې سترګې ړندې دي

دوئ زمونږ دَ مينې درد ته چرته ګوري
بس پهٔ مونږ دَ زمانې سترګې ړندې دي

دَ مظلوم پهٔ حالت بيرته چرته نهٔ شو
دَ انصاف دَ دروازې سترګې ړندې دي

غل چې پټ وي نو بيا عمر لهٔ باچا وي
کړي پهٔ چا دعوٰی دَ شپې سترګې ړندې دي



www.pukhto.net

ما چې اووینې کړې ځان داسې نانګاره
تهٔ به وایې دَ هغې سترګې ړندې دې

را اوباسي دَ عزت لهٔ جامې خلک
دَ هوس دَ تقاضې سترګې ړندې دې


www.pukhto.net

◇

دَ زلفــو شپه دې د رُخسـار سحر ته لاره نيسي
تــــوره بلا ګــــوره زما نظر ته لاره نيسي

کهٔ دَ غېرت هنـــر مې ګــورې زما زړهٔ اووينه
ايکي يــواځې دَ ښـــو لښکر ته لاره نيسي

دَ رنځوَلو او وژلــــو پهٔ چل ښهٔ پوهېــــږي
منګے راواخلـــي مازيګر ګــودر ته لاره نيسي

زهٔ به دې څهٔ دَ حُسن تــــوان لرمه تاب راوړمه
دَ ښائيستونو پلـــوشې دې نمر ته لاره نيسي

وايم چې زهٔ ور پکښې ځای شمه دَ ګل پهٔ شانې
خو رواجـــــونه دې دَ زلفــو غر ته لاره نيسي

څار يوسفزے

ځاّر پهٔ یوه پوهیــــږي ځي به دَ منزل پهٔ لورې
ځوک پېدا کیـــږي چې دَ دهٔ سفر ته لاره نیسي

ژغورل

دا بې وســي ده کهٔ نهٔ خیال زما دَ پاکـــې مینـــې
دَ درده مـــــرمه خو زهٔ غم له ژبه ورنکـــــړمه
چې پهٔ هر رنګ کښې یې ما رنګ دَ بې اعتبارۍ لیدلې
دَ دغې ویـــــرې زهٔ صنم له ژبه ورنکــــــړمه



www.pukhto.net

◇

چـرته ما هم دَ جانـــان دَ سترګـو تور که
وخته! بس دے پرهـــرونه مې تکور که

لکه درد چې دَ پرهـر پهٔ زړهٔ کښې ووسي
جوړ پهٔ داسې چل زما پهٔ زړهٔ کښې کور که

کهٔ زړها ځله ؤغــــوا ړمه سپين نهٔ شم
داســـې ما دَ محبت پهٔ نامه تـــــور که

تهٔ زما غلے فطــــرت پهٔ چغو سر کــــړه
ګلورينــــې ما دَ خپلـو بنګړو شــور که

ځآر نزدې دے دَ جنــون پهٔ کنـډاو اوړي
هلهٔ شابهٔ ښائيستـــــونه دې لړ نور که



www.pukhto.net

◇

زړونه چې يؤ شي نو بيا دومره زر جدا دې نهٔ شي
دَ لږ ساعت دَ پاره څوک هډو اشنا دې نهٔ شي

تاله چې درد درکوي تا دَ ژوند پهٔ طمع وژني
داسې پې مخې خو قاتل دے مسيحا دې نهٔ شي

زلفې خورې که دَ تيارې خبرې لا خورېږې وي
زلفې کمځې دې نشي دا تيارهٔ رڼا دې نهٔ شي

زهٔ هم دَ ذات پهٔ توره شپه کښې تيندکونه خورمه
ما کله وئيلي چې رڼا نهٔ شي صبا دې نهٔ شي

ګرانه ده ډېره دَ اميد سيوري ته ژوند تېرول
ما چې پرې وژني ستا وعده هډو وفا دې نهٔ شي

څاره! وردرومه دَ ګودر پهٔ غاړه ځاى ؤنيسه
ورستے ديدن دَ مازيګر وي چې قضا دې نهٔ شي



www.pukhto.net

بیا مې زړهٔ دردکړے دے بیا راته یاد شوے دے څوک
دَ زړهٔ پهٔ شـړه شـړه دشته کښې باد شوے دے څوک

تاله درځـي دَ محبت دَ رنځـورانـو علاج
تا چې خندلي دي نو بیا جـوړې ښاد شوے دے څوک

دَ ځان سـره سـره یې زهٔ هم بښ قیمته کـړمه
دَ زړهٔ پهٔ کورکښې مې پهٔ دا رنګ اباد شوے دے څوک

دَ سالو سپـورے دې دَ چا دَ سـر نه بیا رانښکودے
دَ هجر نمـر چـې سـوزولے ، برباد شوے دے څوک

دَ سمندر او ستا دَ تـورو سترګـو یو مثال دے
لا ستا لهٔ ذاتـه هم وتلے ازاد شوے دے څوک



www.pukhto.net

◇

دې خاموشۍ له مې دَ نوې ادا شور راوړے
زړګيه پاڅه ما په سترګو کښې ټکور راوړے

دَ چا سره چې دوه خبرې به دنيا غوښتلې
هغه جانان راله خپل ګُل ښائېست سمسور راوړے

لکه پاره ووم په يوه نقطه هم اونۀ دريدم
ما دَ هر چم نه دَ هر کلي نه پېغور راوړے

سړے په وَس باندې پړ کېږي ستا دې در ته نن ما
دَ ښائېستونو دا سېزلے وجود سکور راوړے

کۀ دلته مينه څوک تهمت ګڼي کۀ تور يې ګڼي
مونږ د ازله بيا دَ ځان سره دا تور راوړے



www.pukhto.net

ما دَ دنیا سره دَ ژوند هـــــره رشته پرېکـــــړې
ما ستا کوڅې له بس جانـــــانه کلے کور راوړے

ځاۤر خو دَ ژوند پهٔ سوراړه کښـــې هم سندرې وايي
فطـرت مې غېږ کښې دَ جانان دَ خندا زور راوړے

## جشن ازادي

تقسیم پهٔ څو حصو کښې يې هېواد نهٔ يې وطنه !
افسوس پهٔ دې خبــــــره چې آزاد نهٔ يې وطنه !
تيـــاري پالیسۍ درله دَ هاغه ځای نه راشي
دَ خپلـــې مرضۍ خان نهٔ يې آباد نهٔ يې وطنه !


www.pukhto.net

مُحبت ډېر کۀ دے پېغور پۀ غاړه
ما قبـــول کړې دے دا تور پۀ غاړه

راشه دَ ژونـــد قيصه مې واوره کنه
کله پۀ اور کله دَ اور پۀ غاړه

دَ داسې حسن دَ جواب به څوک وي
زۀ ګـــرځـــؤم دَ يار انځور پۀ غاړه

سم لونګين يـــې پۀ سينه ځنګېدم
زۀ ورته پروت اومه نسکور پۀ غاړه

نـــور دَ دنيا دَ سيـــــالئ اووتلۀ
شو پُښتنـــو ته کلے کـــور پۀ غاړه



www.pukhto.net

◇

چې دَ دوران له غمه ؤوېرېږم
نو ستا پهٔ زلفو کښې پناه واخلم

يه دَ يار غمه لږ مې ساه ته پرېږده
ستا دَ غمونو بوج به بيا واخلم
کله چې ځمه دَ سنګر پهٔ لوري
دَ مور دَ زړهٔ نه مې دعا واخلم
لکه پتنګ پهٔ عشق ايمان لرمه
زهٔ تيارهٔ پرېږدمه رڼا واخلم
ستا رڼې سترګې دې رڼې رڼې وي
ستا دَ رڼو سترګو بلا واخلم

ځار دې پهٔ دے سترګو رښتيا مئين دے
چې دنيا پرېږدمه او دا واخلم



www.pukhto.net

◇

ادا کــــوه ، خنــــدا کــــوه ، سپنګار کوه راځه
په زړهٔ مې دَ تېــــرې تُــــورې ګذار کوه راځه

ساحرې تهٔ دَ خپل حُسن دَ زوره څهٔ خبــر يې؟
په کاڼــو کاڼــو زړونــو باندې لار کوه راځه

په مينه بس پــوهېــږمه په مينه مې ايمــان دے
زما ســـــره هم دغه کاروبـــار کوه راځه

دَ زړهٔ خبـــــره اومنه تــالې دَ شــــونډو لر کا
تهٔ هم دَ لېـــونۍ مينـــــې اقرار کوه راځه

چې وېره ترهه تــوله دې صفا دَ زړهٔ نه اوځـــي
په نيمه شپـــه هم ما باندې اعتبـــار کوه راځه

چې څهٔ ګیلې مانې وي راشه تــــولې راته ؤکــړه
پهٔ مینه کښــــې بس دومره غوندې کار کوه راځه

چې هــر یو کس شي داســې زړهٔ نیولے درته پاتې
پهٔ سترګو کښې دَ باز پهٔ شــــانې ښکار کوه راځه

چــې هسې د دیدن وختــــونه تېـر نهٔ شي لا لیه
نمــــر پهٔ ډوبېـــــدو دے یه تلـــوار کوه راځه

ما هم درته دَ مینــې دا پسته غېـــــږه نیــولې
تهٔ هم راته قــــربان کــوه ځار ځار کوه راځه



www.pukhto.net

# پښتون ته !

وینه دې د بل پهٔ بنیادونـــو کښې توئیـــږي
یه پښتنه وینښ شه کنه ځان درنه ورکېږي کېـــږي

تهٔ دَ خپل شعور واګې دَ هوش پهٔ لاس کښې نیسه
نمر او دا سپوږمۍ به ستا دَ سیورې نه تاوئیـــږي

کوي نور ماشـــــومان خو دَ ګلونــو سره لوبې
زمونږ بچي دَ وینو پهٔ ډنـــډو کښې ترقیـــږي

تهٔ دَ قـــــربانۍ پهٔ بریـــــد ولاړ هغه سړے یې
وینه دې ارزانه ده پهٔ هر ځای کښې خرڅیـــــږي

ستا دا وینـــــې زوي به یو داســـې انقلاب شي
نـــوم به دې دَ وخت پهٔ هره پاڼه کښې یادېـــږي

دې ته نادانـــــــــي اووایم که دا دې بدبختـــي
لوبه چې سره کېږي خـــو هم ستا په سر سره کېږي

ځار دَ مایوسۍ په توره شپه کښې سحر ګـــــوري
وینم ښاپېرۍ دَ کـوهِ قاف ورته ګډېـــــــــــږي

## دا ځینې ځینې

زما دَ قام دا سترګـــــي
دا زيـــــرک فهمه خلک
دا دعوېـــدار دَ پښتـــو
نۀ په پښتـــو مئین دي
نۀ په پښتـــون مئین دي
بس په شهرت پسې مري


www.pukhto.net

مړه خو لا نهٔ یو دَ خاموشه شـونډو شور اخلو
مونــږ پښتـانهٔ یو پهٔ کمزوری پـوکې اور اخلو

دا جنت ښکلې نهٔ دے دا د اوسېدلـــو نهٔ دے
راځه جانـــانه چرته بل وطن کښـې کور اخلو

دا غاصبان خو خاماران پهٔ خزانو پـــراتهٔ دي
که داسې نهٔ شوه نو خپل حق به ترې پهٔ زور اخلو

تهٔ راته ګـــوره مونږ به پهځ پهٔ پرهـــر لګوو
مونږ به دې دا رنګې دَ سترګـــو نه تکور اخلو

مونږ لېـــوني ځاره دَ مینـــې دَ عظمت دَ پاره
دَ تورو سترګـــو نه پهٔ سپینه لمن تورا خلو


www.pukhto.net

◇

پهٔ هر يو ګل مې الوتلې خاورې
سپرلي پهٔ داسې تاق خرلې خاورې

ستا پهٔ ديدن مې تورولې سترګې
چې پهٔ لېمو مې لګولې خاورې

زما پهٔ سر باندې يې خومره حق دے
دَ دې وطن دَ دې سپېځلې خاورې

زمونږ دَ خاورې پهٔ شان خاوره نشته
مونږه لېدلې مونږ کتلې خاورې

څهٔ ترې جوړ شوې څهٔ مقام يې موند ے
دَ کلال لاس له چې ورغلې خاورې

ځاره دَ ژوند څهٔ عجيبه بازار دے
چا سره ګټلې چا ګټلې خاورې



www.pukhto.net

◇

څهٔ عجيبه لهٔ زهـــــرو قند اخلي
پتنګ دَ سرو لمبـــو نه ژوند اخلي

دَ زړګي درد به مې قلار شي خو لږ
وخت پکښې لګي چې پېوند اخلي

دَ محبت پهٔ ايمـــان پـــوخ لېونے
هر څهٔ پرېـږدي او ستا مړوند اخلي

ستا دَ وصال وعـــدو وژلے زړګے
دَ انتظـــــار دَ لمحې خوند اخلي

ناصحه ښهٔ وايـي خو نهٔ يـــې منم
مازغهٔ خـــراب مې کله پند اخلي



www.pukhto.net

◇

تهٔ چې مې څنګ کښې یې نو زړهٔ ته مې قرار غوندې وي
دا ځینې خلک پهٔ خـــــزان کښــــې دَ بهار غوندې وي

سترګـــې رښتـــــونې دي رښتیا رښتیا خبـــرې کوي
دلته انکار پهٔ خلهٔ وي هلته کښـــــــې اقرار غوندې وي

پهٔ دومره خلکـــو کښـــې دَ راز خبـــــــره ماته کـــــوي
نور نهٔ پوهېـــــږم خو پهٔ ما یې څهٔ اعتبــــار غوندې وي

دَ ملاقات دَ یـــــــوې لمحــــــې کېفیت دا رنګه وي
جانان له وېـــرې مري پهٔ ما هم څهٔ تلـــوار غوندې وي

چې پکښـــې فکر دَ حساب او ګټـــــې وټـــې راشـــــې
مینه سـودا غـــــوندې وي مینه کاروبــــار غوندې وي

هســـې دې نهٔ تــــوروي پـــــوزې دا پهٔ دې خو نهٔ ده
درد چې زغملے شـــې مئین خو بس دَ ځـــاَر غوندې وي

◇

رژېـــده خـو زما هســې هم نصيب دے
دَ هـــوا دې دومره زور ته څهٔ حاجت دے

خپل بچي پکښې پهٔ خپلو لاســو سېزئ
انسانانــو دې سور اور ته څهٔ حاجت دے
لېونـــي له دَ اوربل سېـــورے پکار دے
دَ مرمرو دې سپين کور ته څهٔ حاجت دے
دَ رېښتيا اثـــر به زړونـــو ته کوزېـــږي
چې پهٔ حقه يې بيا شور ته څهٔ حاجت دے
عاشقان خو دَ پرهـــر دَ کـــور سرې دي
درد نه خوند اخله ټکور ته څهٔ حاجت دے

ځاؔر دَ مينـــې بد نامي پهٔ ســـر اخيستې
يهٔ کم ظرفو ! بيا پېغور ته څهٔ حاجت دے


www.pukhto.net

نهٔ ځـــي دَ وصل لهٔ خمـــاره سړے
چـرته به لاړ شـــي ستا لهٔ ښاره سړے

زړهٔ يې دَ زهـــرو دَ ترخو نه ډک دے
هسې پهٔ خلهٔ دے خوش گفتاره سړے

پهٔ دنيـــاوي سترګه چې ګـوري ورته
محبت اوباســــــي لهٔ کاره سړے

دغه يــو ټکے راله ملا ماتــــوي
څنګه وېرېـــــږي لهٔ انکاره سړے

جنګ وي که امن وي پهٔ سر او سترګو
سر دې بيا نهٔ وړي لهٔ دستاره سړے

دې نعمتونـــــو له پېښـــــې نهٔ لرم
کـــور ته څهٔ یوســــــي لهٔ بازاره سړے

یـــو ځل چې وُدانګـــې دَ خپله سره
بیا به وېریـــــــــږی څهٔ لهٔ داره سړے

دے پهٔ رښتیا پهٔ پُښتنـــو مئین دے
زهٔ خو ویم ځاّر دې شـي لهٔ ځاّره سړے



www.pukhto.net

◇

دَ سحــــر نه تــر ماښـــــام پله به ځو
ژوند هم داســـې دے انجام پله به ځو

دَ ګـــولو باران به ختم نهٔ شــــي دلته
کېږه اوتــــــړئ باګـــرام پله به ځو

چې وزرو له تــرې نور رنګـــونه راوړو
لولکـــــــو هغه ګلفـــام پله به ځو

اختلاف به هم پـــــالو او دا به هم
که هــر څهٔ وي خو ســلام پله به ځو

کله کله بې خودي هم پکښــې ښهٔ وي
دَ ساقي پهٔ لاس کښې جام پله به ځو



www.pukhto.net

دَ ادب روزنه هلته کښې ښۀ کېږي
ځئ چې ځو ملګرو "پام" پله به ځو **

خلک وائي خو خبره داسې نۀ ده
ځـار بدنام دے خو بد نام پله به ځو

## دروغژنه

دَ دې دوران او دَ جانان غمونو
پۀ خدای چې سم له برمه پرې باسلم
ستا دروغژن لوظ رښتیا نۀ شولو
ستا دې عادت لۀ شرمه پرې باسلم

** پښتانه ادبي ملګري "پام"



www.pukhto.net

زما دَ پــــاره چا خبـــــــره قدرې ؤنه کــــړله
زما پۀ بابله باندې تـــــولو سترګې پټې کړلې

چې بې اسرې شـــومه ، بې دره ، بې دياره شـــومه
پۀ هغه وخت کښې مې همځولو سترګې پټې کړلې

ځه چــې اوده شــــو کنه غمه بس دے شپه اووته
هاغه دے اوګـــوره چې ستورو سترګې پټې کړلې

دا اشـــــاره وۀ ساقــــي نور مې دَ زغملـــو نۀ وو
پۀ مېخانه کښــې چې مېخورو سترګې پټې کړلې

دَ نمــر په مخکښــې دَ ډيــــوې دَ رڼا څۀ معنیٰ ده
تۀ چې ښکاره کړې سترګې نورو سترګې پټې کړلې

نــور يې څۀ نۀ ګنم کۀ ګنم خوش بختـــي يې ګنم
دَ ځـــاّر پۀ شعـر که شمکورو سترګې پټې کړلې


www.pukhto.net

◇

دَ منــــزل درک مې بې درکه ښۀ دے
هسې خوښ مې دے سفر پۀ وُرکو لارو

دا کېدے شي اتفاق به چــرته ؤشــي
ما به اوموڼــــې پۀ ســـر پۀ وُرکو لارو

منتظـــر دَ خپلې بـــرخې خوشحالۍ ته
چـــــرته رابه شـــي اختر پۀ وُرکو لارو

ژوند دَ سیوري او دَ نمر پۀ پېوند ښۀ وي
کله سېـــورے کله نمـــــر پۀ وُرکو لارو

څو لمحې دَ معرفت پکښې نصیب شي
داســـې پیښې وي اکثـــر پۀ وُرکو لارو

که دَ ځـــآر تپوس یې ؤکړو ورته وایه
هغه تلے مـــــــــــرور پۀ وُرکو لارو



www.pukhto.net

دَ ژوند پهٔ پانــــه دَ ژوندو کرښې
لکه څوک راښکـــي پهٔ اوبو کرښې

پهٔ کوم کوم ياد پســې دې اوګرځمه
ډېرې مې شمار کړې پهٔ چنو کرښې

ستاسو دَ يوې کرښې بلا معنې دي
راښکل به غـــــواړي لېونو کرښې

چې دَ اولس پهٔ څړيکــو نهٔ لړزېده
وخت دې راښکلـــي پهٔ هغو کرښې

ځآره ! نن ډېرې عجيبه ښکاريد ے
پهٔ سنګــــــار شـــوو ائينو کرښې

ډېـــر ښاغلــــې رانه ورک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو
وو درانه خو ورو ورو سپک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

دَ مانځه پهٔ اوږد صف کښــې بې يقينه شـــان ولاړ يوو
عجيبه اختــــــه پهٔ شک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

پُښتنـــو قامي وحدت مو دا پهٔ کــــومه بلا اوړي
شته له چــرته يــوو ورک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

زمونـــــږ داســـې بدبختي ده پوهه نهٔ شـو پهٔ ټکَرو
چې پهٔ کوم کوم ځای تيندک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

دَ چا ، چا خبــره منـــو دَ چا ، چا پهٔ لاس لوبيــــږو
اکـو بکـــو ســــر سيندک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

لېونـــې شډل بډل دي غـــرځني خويـــــونه کاندې
خــوبان لاړه ټـــول نازک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

څهٔ دَ خپلې ناپوهۍ نه دَ دوران دَ ستم ښکار شوو
څهٔ ظلمونه دَ فلک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

چې زمونږ پهٔ ورکړه شته وو ځاَره ولې داسې ؤشو؟
هغه خلک راته کلک شوو مونږ خبر دَ دې نهٔ شوو

## ځان مې وژني

ولې مې وژني او پهٔ څهٔ مې وژني
پیوند پیوند ذره ذره مې وژني
جنت چې غواړي د دوزخ پهٔ لاره
پُښتون مې لګي پُښتانهٔ مې وژني



www.pukhto.net

زۀ دَ ازاد وطـــــن ازاد بچے يم
دَ خپل نصـــــاب پۀ پانه پانه ليکم

زما تاريـــخ دَ کارنـــامو نه ډک دے
ستا دَ کتـــــاب پۀ پانه پانه ليکم

څۀ حقيقت دَ دې نېمگـــــړې دنيا
ژوند دے ســـراب پۀ پانه پانه ليکم

ستا دَ نامې دَ پـــــاره دا ځای ښۀ دے
دا دَ گـــــلاب پۀ پانه پانه ليکم

ستا تورو سترگو رانه کړے دے سوال
اوس يې جـــواب پۀ پانه پانه ليکم

څومره ظلمـــونه چې دې کـــړي پۀ ځاَر
دغه حســــــاب پۀ پانه پانه ليکم


www.pukhto.net

◇

چې ژوندے ؤمه خبـــرې مې دروغ وې
خو چې مړ شـومه خبرې مې رښتیا شوې

دَ غني دَ خیال مستي ورپکښې ځای شوه
پېغلې جـونې لاړې تــولې پهٔ ګډا شوې
دَ پخوا راســې زهٔ داســې لېونے ووم
که دَ ؤس نه تهٔ زما سـر کښې سودا شوې
هله ژوند به دَ پــرهر پهٔ کور کښې ؤکړم
زهٔ به درد شمـــه کـــه تهٔ زما دوا شـوې
ډیــوه ځکه سرې لمبې کـــړي پهٔ سر بلې
ډیـــوه غواړي هـــر اړخ ته دې رڼا شوې

زهٔ به هله ځــان ته ځـــآر اویم جانـــانه
چې زهٔ ستا دَ نــرمو شونډو نه ادا شوې



www.pukhto.net

◇

بـــده به څۀ وي زۀ کــه درد له مې درمان اوغواړم
ځان له کۀ ژوند اوغــواړم ، دشت له کۀ باران اوغواړم

څۀ مشینـــــان دي چې راځي دَ مذهب لاره نیســــي
زۀ مسلمــــان یم خو بیا ســـوال به دَ ایمـــان اوغواړم
خپل لېونتــــوب دَ بې حسۍ پۀ بدل نۀ ورکـــــؤم
د دې احساس به کال و سر خیــــرې ګرېوان اوغواړم
چې مې دَ زړۀ پۀ سمه ګل شي ما سپرلے سپرلے کـړي
ځان له به داســــې یو سپرلے سپرلے جانـــان اوغواړم
زما پخپله الله باور دے چې هـــــر څۀ به راکـــړي
زمکه به هم راکړي هغه کۀ تـــرې آسمان اوغواړم

ځاره ! ســـاده یې دَ پـــــردي کلي خانـــي به څۀ وي
نن به ورځم چې دَ جانـــــانه مې خپل ځان اوغواړم

◇

دَ پُښتنـــــو دَ هغه زورِ انځـــوره وتے وو سوز
زهٔ وېـــرېدمه دَ تپـــــــې دَ زوره وتے وو سوز

اوس پـردے غم دَ چا بې حسه زړګي نهٔ لـــړزوي
پهٔ دې وطن کښـــې دَ سلګو دَ شوره وتے وو سوز

دَ چا خبرو چـــې پهٔ زړهٔ کښې نېغه لار ويستله
خدای خبـــــر ولې دَ هغه مېخوره وتے وو سوز

دَ دې نه پس به زړهٔ سواندي وايه پهٔ چا کښې ګورو
چـــې دَ طبيب او دَ نسخې دَ کـــوره وتے وو سوز

ستا آوازونـــو ځاَر دَ نيمې لار راستـــونے نهٔ کړو
دَ محبت دَ لمبه شـــــوي اوره وتے وو سوز


www.pukhto.net

◇

چې تېرېږے نو خفګان يې او چې اودرېږے نوګران يې
وخته ! هيڅ دې پــوهه نهٔ کړو چې تهٔ څنګه امتحان يې

حېثيت لهٔ خپله قـــده سره ښکته شي څهٔ پـــورته
زهٔ چې پـروت يمه نو زمکـه تهٔ ولاړ يې نو اسمان يې

تا چـــې نهٔ وينم رنځېـــږم تا چې اوينم رغېـــږم
ستا پهٔ يو نظـر راتهول شم دَ دردمن زړهٔ مې درمان يې

کمزورتيا خپله منـــو خو ستا دَ رحم طلب ګار يـــوو
شـــړه دشته وازه خلهٔ ده تهٔ شېبې شېبـــې باران يې

مور دَ زړهٔ ټکـــړے ته وائي څه چې بيا دلته را نشـــې
ستا دَ ګټې خيال به څهٔ کړم تهٔ خو شته کور له تاوان يې

دَ ځنګل دَ شر مخانـــو يو بل مات کړئ وينـــې وُڅښې
لږ دَ خپل مقام خبـــر شهٔ سترګې پـــرانيزه انسان يې



www.pukhto.net

◇

چـــې دَ ازله پهٔ روزګـــــار دي هغه خاص خلک دي
دا ځېنـــې ځېنـــې چې ؤزګـــار دي هغه خاص خلک دي

هر يـــــو احساس دَ محبت دَ درد جـــوګه خـــو نهٔ وي
دا شپه ورځ چـــــــې نا قلار وي هغه خاص خلک دي

دَ جا پهٔ "ها" او "نا" موسم دَ زړونـــو ځنګ بدلېـــږي
چـــې دَ اقــــــرار او دَ انکـــار دي هغه خاص خلک دي

څوک به دَ چا دَ پــــــاره دې انجام ته غـــــــاړه نيسي
څوک چې پهٔ مينه کښې پهٔ دار دي هغه خاص خلک دي

ډېـــر خلک راشـــــي ليدهٔ ؤشـــي او پهٔ مخه لاړ شـــي
بعضـې پهٔ ذهن کښې ايســـار دي هغه خاص خلک دي

هر يـــــو سړے دَ دې معيــــــار په تله نهٔ دے پـــوره
دَ ځـــــــآر دَ مينې چې حقدار دي هغه خاص خلک دي



www.pukhto.net

◇

هواګیـــــر فطرت مې غـــــواړي پهٔ هوا شم
زهٔ دَ خپل جانـــــــان پهٔ خیال پسې فنا شم

کله کله مې همه غمــــــــونه هېــــــر شي
کلـــــــه کلــــــه بې سببه پهٔ خنــــــدا شم

دَ خپل نـــــــوم دَ حقیقت پهٔ معنیٰ پُـــوی شم
چې دَ یار دَ نـــــــرمو شونـــــــډو نه ادا شم

ما دَ پـــــــــــــاره دا مقام دَ سعادت دے
چې را اوګـــورې پهٔ سترګو کښې دې راشم

دا زما تاؤدهٔ لاســـــــــــــــونه دَ وفا دي
خدای دې نهٔ کړي چې لاس یخې بې وفا شم

چې پـــــــرې څو ځله پرېوتے یمه څــــــاره
هم پهٔ هغه ځــــــــــای تیندک شمه خطا شم



www.pukhto.net

دَ لولکۍ نه ګېـر چاپېــــره مې اورونه ليدهٔ
ما دَ څو ورځـــو نه څهٔ دا قسمه خـــوبونه ليدهٔ

بس دا خبــــره مې دَ زړهٔ دَ تسلۍ پـــوره وهٔ
که تهٔ مې نهٔ ليدے خـوستا به مې يـادونه ليدهٔ

زهٔ به يې ببـــرته دَ ما ضې خړو کوڅو ته بوتلم
ما چې به کله زړهٔ راښکـونکي بارانـــونه ليدهٔ

زهٔ پرې نور نهٔ رسم خـو دې ته مکافات به وائي
دَ چا لاســـونه او دَ چا مې ګـــرېوانونه ليدهٔ

ځاره! ورځمه چې تعبير يې څوک دَ خېر اوباسي
زهٔ وېرېدم ما پهٔ خوبــــونو کښې اورونه ليدهٔ

◇

پهٔ غوروزو پــــرزو به ؤرسم دَ جانــــان غېږې له
داسترګے ژوند به چــرته يــوسم دَ ارمان غېږې له

ستا پهٔ لټون کښې لارې کچ کړمه سحر ماښام کړم
چــې تا اونهٔ مومم نــو راشمه دَ ځـــان غېږې له

جانـــان وئېلي دې دَ زلفـــو پهٔ رسو يې تـــړم
دا لېونے به اوس ؤرزغلـــي دَ زنــــدان غېږې له

دا ورشـــوګاني دا سيندونه او دا دشتـــې غرونه
قدرت بلا ښائېست ورکړے دَ جهــــان غېږې له

مونږ خو ترې ځان ساتو نصيب مو زوروره اوکړي
مونــږه چې اوځو نـــو ؤرسو دَ تــــاوان غېږې له

ځاره! پهٔ دنګو ديوالونو کښې مې ساه ډوبېـــږي
هلته مې ژوند تېريـــږي ځم دَ بيابـــان غېږې له



www.pukhto.net

## چرته لاړې

درد مې قلار شو دَ پرهر دَ کوره چرته لاړې
دَ ارزوګانـــو دَ کالهٔ دَ شـوره چرته لاړې
پهٔ محبت کښې خو بلا بلا خبـــرې کېږي
دا به کېدهٔ دَ محبت دَ تـــوره چرته لاړې

## بد امني

وينه ارزانه شـــوه دَ کوم تاراج خبــرې کېږي
پهٔ کلي کـــور کښې دَ قاتل رواج خبــرې کېږي
دَ پښتون خواه پهٔ بام و در خو به ډيـوې بلېدې
اوس پکښې ولې دَ تياري د راج خبــرې کېږي


www.pukhto.net

◇

ناشــــونې اوشوه پُښتنــــو پُښتنــــې خېر غوارې
دَ نور څۀ نۀ غــــوارې دَ يــــوې لوېټې خېر غوارې

زما دا ځينې معتبــــر او محتــــرم شاعــــران
دوی پۀ نشه کښې دَ پُښتــــو دَ شملــــې خېر غوارې

هر يو سړے دَ خپل غرض پۀ معنیٰ ښۀ پوهېــــږي
دَ محبت ملنګ دَ يــــــار دَ کــــوڅې خېر غوارې

پۀ دې ويرېــــــږم چې ځانــــونه چرته اونۀ بئيلو
پُښتــــون دې هر وختې د خپلــــې ټپې خېر غوارې

پخــوا کوڅې هم وے د امن دَ کالۀ کــــــورونه
اوس خلک لګــي دَ جمات او حجري خېر غوارې



www.pukhto.net

دَ ورځې خپل حېثيت ورِ ګڼـې چې پـرِ رانۀ شي
يو سفېد پوشه پۀ تيارۀ کښې دَ شپې خبر غواړي

ساز او اواز دے ياران هم دي دَ جامونـــو کړنګا
زړۀ مسلمان مې دَ ويستلــې تــوبې خبر غواړي

خدايه دا يو ځلــې رښتيا کـړې دَ دروغو وعــده
ځـــاړ ستا دَ ځُلې نه دَ وتلې وعدې خبر غواړي

## پته

چې دَ ګلونـــو پۀ ســرونه اوســي
زده کـــړه دَ مينې دَ هغو نه کـــوه
زۀ پۀ ښائېست پسې ورک سړے يم
زما تپـــوس دَ ګل غوټـو نه کوه



www.pukhto.net

ستا ياد وو چې دَ سوي زړهٔ درمان لهٔ مې ساتهٔ
يو تار دَ تورو زلفو وو ګرېوان لهٔ مې ساتهٔ

چې تهٔ دَ کائېناتو دَ همه کارونو خداى يې
هم دغه يو احساس وو چې ايمان لهٔ مې ساتهٔ

دَ تولو ګذارونو نه مې ؤساتو پهٔ ډډه
جانان زما پهٔ زړهٔ کښې وو ارمان لهٔ مې ساتهٔ

نن ژاړمه او سم دَ پشکال پشانې ژاړم
يو غم وو دَ مودو مودو باران لهٔ مې ساتهٔ

چې دے به دَ غرض پهٔ نخښه ښهٔ برابر لګي
پُښتون چې مې ساتهٔ خو دې تاوان لهٔ مې ساتهٔ

چې ما وو دَ خپل حسن پهٔ اثر لېونے کړې
دا ځار چې مې ساتهٔ خو بيابان لهٔ مې ساتهٔ



www.pukhto.net

◇

پهٔ هغه خپل ورک شـــوي درد پسې لېواله ګرځم
لهٔ ځـــانه ورک دَ خپله خيـــاله هم بې خياله ګرځم

سپورے خو ستا دَ تورو زلفو دَ ځنګل سپورے وهٔ
اوس کهٔ مې نمر سيـــزي خـــو لرې لهٔ دېواله ګرځم

دې خپل زړګـــي زهٔ دَ دنيا دَ هـــــره کاره ويستم
پهٔ درست جهان کښې بې هنــــره بې کماله ګرځم

زهٔ که هـــر څهٔ وُکـــړم دَ دې مـــداره نهٔ شم وتے
لکه پـــــرکار دَ دائــــــرې ستا دَ جماله ګرځم

دَ هـــر عمل ردِ عمل وي ځـــــــاره منې که نهٔ
چې بل ازار نهٔ کـړم نو عمـــر له خوشحاله ګرځم

◇

دَ ګل غوندې لېمو کښې خندېدل غواړي يارانو
دَ ژوند پهٔ سخته دشته کښې به تلل غواړي يارانو

نور دې ته دَ کتلو او لوستلو تاب مې نېشته
خطونه دَ جانان به اوس سېزل غواړي يارانو

ستا لارې ته لېمهٔ مې دَ نرګس پهٔ شان نيولې
داسترګې مې يوه لمحه ځنبل غواړي يارانو

را غونډ دې امن خوښې بيا دَ امن کړي خبرې
لمبې دَ بد امنۍ به اوس وژل غواړي يارانو

زمونږه خوشحالي خو زمونږ خيال دے نور څۀ نهٔ دي
پهٔ خيال کښې دَ جانان غېږې له تلل غواړي يارانو



www.pukhto.net

راځې چې سره کښېنو او راځې چې داسې ؤکړو
یو څو دَ حسرت اوښکې څڅول غواړي یارانو

دَ ژوند دَ پاره جنګ دے دَ ځاَر واورې کهٔ پوهېږې
دا ځان به دَ حالاتو نه ګټل غواړي یارانو

## خوارهٔ پښتانهٔ

شي به راجمع د یو موتي پهٔ شان
چرته کښې دا دانه وانه پښتانهٔ
بلا سرونه دِ دستار لري دوی
زما پیاوړي پښتانه پښتانهٔ



www.pukhto.net

◇

دَ وخت پۀ حادیثــو کښې مې سفر دے ستا دَ مخه
تیارې دي کۀ تیــارې دي خو سحر دے ستا دَ مخه

د درد پۀ هره څړیکه کښې قرار غوندې ښکاریــږي
منم دا چې لوی غم دے خــو اختر دے ستا دَ مخه

یو ځلې دَ ســـراب پۀ ائینه کښې راڅـــرګند شۀ
باور وُکــــړه جانـــــانه سمندر دے ستا دَ مخه

دَ ژوند پۀ جل وهلي ســور تاړاق کښې چې ولاړ یم
کۀ تاؤ دے سرۀ غارمۀ دي مازیګر دے ستا دَ مخه

نـــازونه اداګانــــې دې دَ دې پـــورې اوړمه
رقیب مې دَ زړۀ ســـره دَ زړۀ ســر دے ستا دَ مخه



www.pukhto.net

دَ عمر ختم شـــوي روايت بيـــا را ژوندی کــــړه
دَ زړهٔ کنـــــډر ته راشه نــو ګــودر دے ستا دَ مخه

زما دَ خلې خبـــــره ده دَ هــــــــر يو زړهٔ خبــــره
پهٔ ځــــار کښې کۀ اثــر دے خو اثر دے ستا دَ مخه



www.pukhto.net

دَ کوم ځای نه چې ښکارې دَ هغې نه ليدۀ غواړي
دا څۀ حقيقتـــــونه دَ نـــزدې نه ليدۀ غواړي

دا واړه فســـادونه دَ انسان دَ فکـــر کار دے
دنيا دَ امن کـــور دے دَ کعبــې نه ليدۀ غواړي

چې څنګه لېونتـوب دَ مينې اور له غاړه ورکړي
پتنګ څومره مئين دے دَ لمبــې نه ليدۀ غواړي

قط شوې لېـــوني يې پۀ کوڅه باندې تېرېږي
او دا يې دَ خپل کـــور دَ دروازې نه ليدۀ غواړي

بيا ګـــوره چې دَ ذات دَ تورتمونـــو نه به اوځي
رڼا څومره ښائېسته ده دَ تيـــارې نه ليدۀ غواړي

کاتۀ دَ يو نظـــر وو څۀ چل ؤشو پـــوهه نۀ شـــوم
دَ مينـــې کېفيت دَ حادثـــې نه ليدۀ غواړي



www.pukhto.net

چې زما تصویـــــر دې نېشته پهٔ لېمهٔ کېږي
هيڅ څهٔ خوند نېشته دَ مينې پهٔ قصه کېږي

چې دَ کــــوم ځای نه روان شـــو هلته رسو
هســـــې منـــــډه ده دَ ژوند پهٔ دائـره کېږي

چې پهٔ زړهٔ باندې تک سپين يې نو بيا ولې
څهٔ خو شته دے چې ويرېږې پهٔ تياره کېږي

څهٔ خبـــره داسې وه دَ اور پهٔ غېـــږ کېږــــي
چې پتنګ لهٔ ژونده تېـــر شو پهٔ لمبه کېږي

بس خو يو دَ سترګــو رپ وهٔ چې يې يوړم
څهٔ مې نهٔ ليـــــــــدهٔ پهٔ دغه حادثه کېږي



www.pukhto.net

فلسفو دي په سپين مخ باندې دَ خال معنىٰ ؤنکړه
پســــرلو او رنګينـــــو دي دَ جمال معنىٰ ؤنکړه

دَ جـــزا او دَ سزا په مطلب اوس هم نۀ پــوهېــږو
ما دَ دار معنىٰ ؤنکــــــړه تا دَ تـــال معنىٰ ؤنکړه

هسې وايو دَ پښتـو په پت غېـرت باندې مئين يو
خو هيڅچا هم دلته مونږ ته دَ خوشحال معنىٰ ؤنکړه

زما سترګـو ته پرېوځي تۀ خبـــر يې اوکۀ نۀ يې
تا خـو هسې هم پخپله دَ خپل شــال معنىٰ ؤنکړه

مونږ په داسې لاره سر يو کړلېچونه پکښې ډېر دي
يو رهبــر هم چـرته مونـــږ ته دَ زوال معنىٰ ؤنکړه


www.pukhto.net

◇

اوس پکښــــې تېپه دَ ســــــره نهٔ خېژي
ولې يا قــــربان لهٔ غـــــره نهٔ خېژي

دا لمبــــې دي ستا بچي هم ؤسېـــــزي
اور دې نـــــور زما دَ ســــــره نهٔ خېژي

خيال کښې دَ اسمان ســره خبـــرې کړي
پښــــې خو دې دَ کــــور دَ وره نهٔ خېژي

اوښکه دَ بــرداشت مې پتهه نهٔ کړے شوه
ښکته ښکته ځــــي او بـــــره نهٔ خېژي

زلفــې دې وريځ خــــورې پهٔ مخ باندې
ځکه پلوشـــــــې دَ نمــــــره نهٔ خېژي

وي به تول پوره خو دَ کار وخت کښې بيا
ځـــآر ولې پهٔ تــول کښې غوره نهٔ خېژي



www.pukhto.net

◇

زمونـــږ دَ لېونو څيـــرې ګـــرېوان نه ويرېدهٔ
دنيا ټـــوله دَ يـــو موټـــي افغان نه ويرېدهٔ

پهٔ کوم ځای چې ولاړ وو هم پهٔ هغه ځای شو پاتې
چـــې څوک پهٔ محبت کښې دَ تـــاوان نه ويرېدهٔ

دَ خپلو نازولو پښـــو خاپـــونه يې ورانـــول
کـــه مينه يې کـــوله دَ جهـــان نه ويرېدهٔ

دَ تنـــدر دَ آواز سره به شـــوه اوتـــره اوتـــره
دَ وصل پهٔ شپه څـومره دَ بـــــاران نه ويرېدهٔ

دَ زړهٔ درزا يې هغه وخت کښې څومره وهٔ بې واره
چې ځـــار ته غاړه وتې وهٔ دَ ځـــان نه ويرېدهٔ


www.pukhto.net

◇

دا ستا دَ سترګـــو په کاڅـو کښـــې ورته څۀ پراتۀ وو
په مېخانــه کښــې چې رنـــــدان خوارۀ وارۀ پراتۀ وو

خو ستا دې سترګـــو ته مې اوکتل نو دا رنګـې شـوم
هاغـــــه مې اونۀ وې کـــوم څۀ چې مې په زړۀ پراتۀ وو

زۀ به لۀ دې ويــــــري دَ کــــــوره هم بهــــر نۀ ؤتم
دَ زړګــــي غلا ته مې دَ تــــورو سترګو غلۀ پراتۀ وو

ښکارې چې دلته کښې د مينې وعد وعيد شوے دے
په يوه شپاله باندې تـــــازه ګلـــــــونه دوۀ پراتۀ وو

څۀ په تالان کښې دَ سپېرۀ غوائي په غره کښې شپه وه
او څۀ په خپله پښتـــــــــانۀ په خوب اودۀ پراتۀ وو

ځـان چې پرې ؤسيــــزی مقام دَ شهيـــد مومي کنۀ
ځــــار به ليـدۀ ډېـــر پتنګان شمعو ته مړۀ پراتۀ وو



www.pukhto.net

خواره اجـــزاء دَ خپل زړهٔ دَ ارمان راټــولؤم
ذره ذره پرېـــــــوتے یم او ځان راټــولؤم

زما دَ تخیل وزرې ستــړي چـــرته نهٔ شـــوې
یقین ؤکـــړه پهٔ موتـــي کښې آسمان راټــولؤم

دَ خپلـې بې وسی پهٔ معنی اوس هم نهٔ پوهېــږم
د هــر ظالم دَ لاســو نه ګرېــوان راټــولؤم

پهٔ دې ګمان چې هر څاڅکے دَ یار له یاده ډک دے
دا څنګــــه لیــونے یمه بـــاران راټــولؤم

همه ماده پرستـــو ځئ دنیا راټــــولوئ
زما خــو دغه کار دے چې افغـــان راټــولؤم

چې ولې یو بل دومره په اســانه باندې وژنـــې
دَ ژونــد نه بې خبــــره انسانان راټــولؤم


www.pukhto.net

◇

دَ کار نه بــې خبـــره دَ انجام نه بې خبـــره
غورزېـــږي پښتانهٔ دَ خپل مقام نه بې خبـــره

داتهٔ چې څنګ مئين يې زهٔ مئين نهٔ يمه داسې
خدمت دَ پُښتـــــو کړمه دَ انعام نه بې خبـــره

دَ شـــوق انتها دَ حدبندۍ دَ حــــده اوځي
زهٔ څمــه پخپل لوري دَ مابښـــام نه بې خبـــره

ستا سترګـــې مې ليدلې مېخانې ته نهٔ يم تلے
دا ولې داســـــې زانګمـــه دَ جام نه بې خبـــره

مقصد حاصلول خو دَ حـرکت پهٔ بـرکت شـي
منزل ته څنګـــــه رسي بيا دَ ګام نه بې خبـــره



www.pukhto.net

◇

دَ تهمتونو الزامونو اسویلو نه لرې
مینه به کړو خو دَ ګمان دَ اندازو نه لرې

چې دَ منزل سودا یې هیڅ په سر کښې نهٔ ځائیږي
چې کم همته وي دَ داسې قافلو نه لرې

دَ خپل اولس دَ مینې درد دې لړزوي او که نا
کهٔ سوداګر یې نو بیا زغله دَ پښتو نه لرې

دا به څهٔ کیږي چې په یو کار کښې مې زړهٔ نهٔ لګي
ژوند به تیریږي څنګ دَ ژوند دَ تقاضو نه لرې

هیڅ نهٔ جوړیږي ترې دَ اور کرل کرل به اورتکوي
یه پښتنو اوسې دَ داسې تربګنو نه لرې

پهٔ دې رخسار دَ سرو لمبو معنیٰ دَ ژوند معنیٰ ده
زهٔ پتنګ خو یه به لاړ نهٔ شم دَ لمبو نه لرې



www.pukhto.net

دَ ژونـــــد پۀ سختـه او ازغنه لاره
ښکـــه لوېـدمه پاڅېـــدمه تلمه

دَ ارمانونـــو هغه ســـور مقتل ته
زۀ پۀ ځــان چــرته پوهېدمه تلمه

دَ مرګ پۀ لار دَ سرو لمبو غېږې ته
لکـــــه پتنګ خوشحالېدمه تلمه

دَ محبت دردونه شــــــوه لۀ سره
دَ يـــــار لۀ در رخصتېدمه تلمه

دَ انسانانـــو دَ وحشـــي ماحول نه
پۀ چغـــو چغـــو ژړېـــدمه تلمه

ځــآره دَ زړۀ د بې وسۍ به څۀ وے
پۀ هـــر قــــدم راستېندمه تلمه



www.pukhto.net

زما دَ ژونـــد دَ حادثـــــــو قصه ده
جانـــــــانه ستا دَ اوربېـــدو قصه ده

هسې ژوندي دي خو ضمېر يې مړ دے
مرګيــــــه راشه دَ ژونـــــدو قصه ده

تاته لوګے شي او نظـــر دې مات کړي
دَ ســــوزېدونکـــو سپېلنـــو قصه ده

په تـــور دَ مينـــې مو څوک اونهٔ وژنـــي
دا دَ آدم او دَ درخـــــــو قصه ده

هـــر ځلې څټ مې ستا په لور ماتېـــږي
په هغه بــــام دَ اودرېـــــدو قصه ده

دَ بل په ســـر باندې چې ځان اووژنـــي
دا دَ دې قــــام دَ پښتنـــــو قصه ده



www.pukhto.net

◇

خبــــر چــــې مې دَ کلـــي لر او بـر ته رسېــدهٔ
زما دَ لېــــونتوب اثـــــر هم ســـر ته رسېــدهٔ

دَ میــنــې زور ولې دَ "بې ستون" نه را اوباســـې
فــرهاد تیشه پهٔ لاس باندې چې غــر ته رسېــدهٔ
دَ حد پهٔ یو ځــو کرښو کښې رابند هغه سړے
دَ ذات دَ قېــــده اووتـــو نو نمــــر ته رسېــدهٔ
چې شــوندې یې دَ زړهٔ پهٔ زخم کېښــودې نو بیا
اثــر دَ درمان بل شـــانې پرهـــــر ته رسېــدهٔ
ما سترګې کلکې بندې کړې راجوړه مې تېارهٔ کړه
خـــو څهٔ ظالم ســړے وو دَ زړهٔ ور ته رسېــدهٔ

رشته راسره پائي ځـــــاره خومره وفادار دے
زما دَ مابښـــامونـــو غم سحـــر ته رسېــدهٔ



www.pukhto.net

◇

تهٔ څُوی کـــړې دَ ساقـــي او زهٔ خـــويونه رندانه
دَ زړهٔ اختيـــار مې اخلي ستا نازونه جانــــــانه

چې څومره مينه ورکـړمه او څومره غم تــرې اخلم
دَ مينـــې پېمـــانه وي نهٔ دَ غـــم وي پېمـــانه

د لرې مې پهٔ سترګو شي نو زړهٔ مې پرې راټول شي
زمانه پنـــاه مهٔ شه دَ يـــار ګل ګل آستــــانه

پهٔ يوه قطره اوبو کښې احساسات دَ زړګـــي ګوره
دَ سترګـــو چې پـــرېوځي هغه اوښکـه دُردانه

دا راز دَ لېونتـــوب د چانه چرته کښــې پټېـــږي
دا خلق ټـــول پوهېــږي پهٔ شلېدلي ګرېـــوانه



www.pukhto.net

واکداره! تهٔ به ښهٔ وايې دَ خُلې نه دې قـــربان شم
خو جنګ ته به زهٔ څنګ وايم دَ امن تــــــرانه

پهٔ څـــآر پسې د مئيو جام لېمو کښــــې ګرځوې
دَ سترګو پهٔ خمـــار کښـــــې دې آباده مېخانه

## درېغه

ستا تارونه مې راتـــول نهٔ کړه ګرېـــوانه
لېونتــــوب پهٔ سر ختلے دے بې شـــانه
چې پهٔ غېږ کښې دې سر کېږدمه اودهٔ شم
يه دَ څــــــار دَ سترې سترې ژوند آرمانه



www.pukhto.net

◇

ستا ښـائېست به تا خومره مغـروره کړي
چـــرته زما يـاد به دې مجبـوره کړي

تا کهٔ څـوګند کړے دے دَ نهٔ راتلــو
خدای به دې پهٔ خوب کښې راحضوره کړي

درد چـې دَ اولس لري پهٔ زړونــو کښې
هاغه ســړي ګټــه کړي اوتــوره کړي

ماته دې زما قصــور را اووښــايـي
ګرم مې ګڼـــې ګرم مې بې قصـوره کړي

ما لکــه تصويـــر دَ زړهٔ نه اوبـاسه
خيال دَ ښکلي څـاَر به دې رنځوره کړي



www.pukhto.net

مُحبت خومره ښائېسته دے
دا عادت خومره ښائېسته دے

سـر پهٔ جغ کښـې ورته نهٔ ږدم
بغاوت خومره ښائېسته دے
خـر به هم ورته ماما کــړي
ضرورت خومره ښائېسته دے
لکه ده پهٔ ګــوتو جــوړه
نزاکت خومره ښائېسته دے
دروغ مهٔ وایه جانـــانه
حقیقت خومره ښائېسته دے

ځــآر پهٔ تشه خندا اخلــي
دا قیمت خومره ښائېسته دے

د ژوند سوکړه او د جانان خبره
پهٔ للمه زمکه د باران خبره

د بندګۍ جذبه مې هغه شان ده
هېره مې نهٔ ده د ارمان خبره

دَ خُلې نه اوځي شي پهٔ کاڼي کرښه
د لېوني زړهٔ د ايمان خبره

نن راته چا د جانان نوم واخېستو
زمکې ته ؤشوه د اسمان خبره

زما جانان ته دې څوک څهٔ نهٔ وايي
وخته زهٔ نهٔ کړمه د ځان خبره



www.pukhto.net

دَ عشق لېواله اظهار نهٔ پټېږي
خلکو ته کړي ده ګرېوان خبره

ما به ترخه چاته وئيلې نهٔ وي
هر وخت مې کړي ځاّر قربان خبره

## اُمېد

دا وينې او دا زَوې به د رحم باران يوسي
زمونږ پهٔ سَردرو به نوے نمر را ؤخېژي
دَ غم دا تکه توره شپه که هر څومره اوږده ده
چې زړهٔ د تيارې ؤچوي نو سحر را ؤخېژي



www.pukhto.net

◇

راکاږې راله کرښـــــې دا خـــونخوار د زړۀ پۀ سر
ما بيا هم دېـــــره کـــــړې دغه يـــار د زړۀ پۀ سر

نــور نۀ خو د خوبــــانو دورنګـــي مې ژړوي
اقـــرار يې وي پۀ ژبه او انکــــــار د زړۀ پۀ سر

راتله او نۀ راتله خـو اوس پۀ تا بانــدې موقــوف
ما هســې هم درکــــړې ګــرانه لار د زړۀ پۀ سر

لږ اووايه چـــې زړۀ به دې اور اخلـــي او که نۀ ؟
چې درکړي پۀ اعتبار کښې څوک ګذار د زړۀ پۀ سر

د خپلـــې بې وسئ احساس مې هـــر وخت ژړوي
چـــې نۀ لرمه خسکــــې هم اختيـــار د زړۀ پۀ سر

عبث راته پۀ غـــــاړه تعويــــزونه زنګــــوي
مور جانې ! دېـــره شوے مې دې څآر د زړۀ پۀ سر

---


www.pukhto.net

◇

نېـغ مې دې بانۀ لښکـر ته مۀ راځه
داســـې خالـې لاس سنګر ته مۀ راځه

څوک به دې جانانه دَ نظـــــره کړي
تۀ پۀ مازېګر کــــــودر ته مۀ راځه

چـــــرته مې قسم لاليه مات نۀ شـــې
هر وخت مې د زړۀ دے ور ته مۀ راځه

نـــن دې څۀ عجبه شانـــــې اووئيل
زرکــــې به درځـــي او غر ته مۀ راځه

دلته لا د مينـــــــې رواج نشته دے
ما پســـــې د لارې ســـر ته مۀ راځه

خپل یقین تېرباسلم بیا پهٔ خنـــډ و خار پرېږدم
داسې بې حاله شــوم بې ځانه پهٔ یو وار پرېږدم

هر یو ګــــــذار ته مې سینه لکه سندان نېولــي
خو څهٔ چل اوشو چې دَ ښکلې پهٔ انکار پرېږدم

دَ زړهٔ دَ درد او ســــوز قیصو داســې وژلے یم
دَ غره دَ سره دَ شپـــــونکي پهٔ یکه زار پرېږدم

دَ مخې غاړې چې راتلو نو دَ دښمن ګـــذار وو
دَ شا دَ غــــــاړې دَ یـــــارانو پهٔ ګذار پرېږدم

ما هله اوکـــړه خـــــو دَ دې ځنګله اونهٔ ووتم
ستا دَ اوربل پهٔ دغــــه نېغه سپینه لار پرېږدم

ځآره پهٔ دغه اننګـــي مې خپل وجـود اوبائیلو
لکه دَ څاڅکې مې سخ اوکړو پهٔ انګار پرېږدم



www.pukhto.net

## غرور

هر څۀ کۀ مات شي خبر دے مات دې شي
یــو د پُښتــو غـــــرور مې مات نۀ شي
نـــور مې د یـــــار کــوڅې ته مۀ را بلئ
یۀ ! لېـــونو غـــــرور مې مات نۀ شي

## بې وسه

ستا هــر یاد خو مسلسل د عذاب نوم دے
دغــه درد چـــې دې د زړۀ نه ویستے نۀ شم
نور پۀ هر څۀ کښې پۀ ځان زما اختیار دے
خـــــو تا دَ ذهن دَ کالۀ نه ویستے نۀ شم



www.pukhto.net

یاد د سترګو پناه کېږي څرته نه
درد مې هغه دے کمېږي څرته نه

محبت له مې بې ننګه پله بيائي
سر خوړلے زړهٔ پوهېږي څرته نه

رقابت زمونږ د يو جانان پهٔ سر دے
اور اوبو سره يو کېږي څرته نه

دا دولت زمانه څوک اخيستے نهٔ شي
فن خو مينه ده ورکېږي څرته نه

زمانې د څار علاج خو محبت دے
لېونے په دار سمېږي څرته نه



www.pukhto.net

◇

نـاز چـې پخپل وار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي
پېغله چــې سنګار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي

دغه يې اصــــول دغه دستــــــور دے نو
ښکلې چــې انکار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي
روغـو کهٔ پهٔ څـو څـو واره تېـر باســوو
ړوند چې پرې اعتبار نهٔ کړي نو څهٔ به کړي
سترګـې چې دې ډوبې ډوبې تــورې کړې
زړونو کښې چې لار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي
اور دَ محبت يــې سينه اوســــــوَله
اوس کهٔ هم اظهــار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي
ياره! کېميا کـــړه ستا وړه خنـــــدا
درد چــې مې قلار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي

تهٔ زما دَ ژونــــــد دَ استانې ښکلا
څـــآر چــې دلدار نهٔ کـړي نو څهٔ به کـړي



www.pukhto.net

◇

غــربت ورته بلا شــي او يا تښتــــي لهٔ پېغــوره
پخپله خوښه چــرته ځوک اوځــي لهٔ خپله کــوره

دَ ژونـــــد پهٔ هر يو موړ د عذابونـــــو سره مخ يم
ستا مِهر به تر کـــــومه پـــــورې ما ساتــي لهٔ اوره

جواب دَ مينـــې څهٔ دے ما دَ مخکښـــې نه منلے
سړے چې مينه اوکــړي نو بيا نه تښتي لهٔ توره

دا ځومره نزاکت مې دَ احساس وجود کښې راغـے
زړګے مې کله وران کله مازغهٔ مې شــي لهٔ شــوره

معنىٰ دَ مينې څهٔ ده خو پهٔ اور کښې سوزېدل دي
سبق خو دې ځوک واخلي دَ بتهې دَ ســوي سکوره



www.pukhto.net

هر یو تــــرېنه ښهٔ ؤڅکــي هر یو ترې مزې واخلي
زما چې پرې وار راشــي نو کاسهٔ شــي رانسکوره

د خوند خبــره دا وي چــې د درد سره درمان وي
درد هله بیا ګـرانیـږي چې پرهـر شي بې ټکـوره

---

درد مې قلار شو دَ پرهر دَ کوره چرته لاړې
دَ ارزوګانــــو د کالهٔ د شــوره چرته لاړې

په محبت کښې خو بلها بلها خبرې کېږي
دا به کېــده دَ محبت دَ تــــوره چرته لاړې

---

◇

دَ کامیابۍ د عظمت سترګې به مو پښې ښکلوي
مونــــږه دَ صف نه پاڅېدلــي يــو دَ جنګ لهٔ پاره

زما دَ سترګــــو نه دَ يــار دَ يــاد بخـرې دانګــي
جذبي راټولي شولې ډب شوې د غورځنګ لهٔ پاره
دا تسلسل دِ روايت مونـــــږه قـــــائم ساتلے
چــې پښتـــانهٔ ســـرونه اوشيندي د ننګ لهٔ پاره
ماته زما تر کـــوره راشــي ماته ګــوته خنــډې
تــوره په نيـــام کښې مې ساتلــي ده د زنګ لهٔ پاره
ژوند او احساس راغلې ساز دې هم کوځې ته راغے
ستا په مړوند باندې د شنو بنګړو د شرنګ لهٔ پاره

مطربــان ستا د سُرکو شــونډو نه خندا چې اخلـي
د فــــن د ژوند د پاره ســـاز له د ترنګ لهٔ پاره



www.pukhto.net

◇

بې وفا نهٔ ووم دَ حالاتـــــو تقاضا داســې وه
زما پهٔ ســـر خلکـــــو وژلے دا قصه داســې وه

د روایت پهٔ مړ وجود کښــې لکه ساه چې راغله
د غره د سره چې شپـونکي اوکړه ټپه داســې وه

پهٔ دې رضا شو چې د خپلو رونــو وینې ؤڅښې
وینه یې سپینه شوه ورکړې چا پېسه داســې وه

نهٔ د رهبـر سره څهٔ غم نهٔ د وګـــــړو پـــرواه
هســـــې روانه وه بـــې دره قـــافله داســې وه

زما د روح پهٔ لر و بر کښې یې مستـي ګډه کـړه
د زړهٔ لهٔ تار نه چـــــې وَته هغه نغمه داســې وه


www.pukhto.net

تاله ډک جام درکړي زما شونډې له تندې تراړې
دا يې نظام دغه انصاف دا مېخانه داســـې وه

د دې حصـــول لره ورتېر شو له هر څهٔ ورتېر شو
د څـــارَ په لاس رانغله ښکلې دردانه داســـې وه

## قحط

دا به بيـــا وخت وي دَ زوال راغلے
په پښتون خوا کښې چې اتل نهٔ مومې

د دې نه لويه بد بختـــي به څهٔ وي
چـــې منډه هُم وهې منـــزل نهٔ مومې

◇

پهٔ هجران کښې دې سم لېــونے لېــونے
ستا پهٔ مينه کښـــې يم لېـــونے لېــونے

دَ ژوندون څهٔ معنیٰ دَ ژوندون څهٔ مطلب
زهٔ پــرې نهٔ پـــوهېدم لېـــونے لېــونے

پهٔ فطرت کښې زماټول رنګونه دې ستا
تهٔ خنـــدا تهٔ مې غم لېـــونے لېــونے

زمونــږ دواړو رشته د پرهـــر او د درد
تهٔ درخــــــو زهٔ ادم لېـــونے لېــونے

بنديـــــزونه به څهٔ لاره نيســــــې زما
ستا په در مې قـــــدم لېـــونے لېــونے

څآره دا مې حاصل دا مې ټول کائينات
دا کـــــوڅه دغه چم لېـــونے لېــونے



www.pukhto.net

◇

ستـرګـو د ا غيـارو کښـې چـې سترګې اچولے شم
تاتـــــه هم کتلے شم ، هغه تـــــه هم کتلے شم

پُـوهه يم خبـر يمه چې عشــــق دَ اور نامه ده خو
بيا هم دغه سُـور اور پهٔ سينه کښـــې ځايـولے شم

غـوټه مې پهٔ زړهٔ کښـې جفاګانــو جـوړه کـړې ده
خبـر به شـي خوره به شـي پهٔ چغو چـې ژړلے شم

ستانه به تـر څـو پهٔ سـوال دَ خپل زخم دارو کـوُم
زهٔ دَ پــــرهرونــــو خُلـې پهٔ خپله هم ګنډلے شم

زهٔ دَ محبت پهٔ دود دستـــور باندې ايمــــان لرم
وصل ته کهٔ يم خـوشحال هجران ته هم خنـدلے شم



www.pukhto.net

ځــــوانه حوصله مې ده غمــونه را په سر کړه نور
يمه اموختـــــه دَ غم دا غـــــرونه هم اوړلے شم

زهٔ که محبت کــــوُم اختيـــــار په زړګـــي هم لرم
ؤغـــوارم چې کله ستانـــــه ځان راټـــولولے شم

مهٔ پرې شين کوه زړګے اے وخته ځارؔ خوړے نهٔ شې
زهٔ دَ هضمېدو نهٔ يم او ستانـــــه ځـــان ګټلے شم



www.pukhto.net

ژوندون چې تور خامار شي او ژوندون چې سرې وژني
پهٔ داسې ښاريه کښې به ژوند څهٔ وي او خوند څهٔ

پهٔ زړهٔ کښې موج وهي جذبات او لار دَ لېمهٔ نيسي
چې د ېر هم ورته ؤتړې دې اوښکو ته بند څهٔ
نمرې د غرض اخلې خو دَ دې نه خبر نهٔ شوې
چې زهر ورپکښې وي نو معنیٰ وي دَ قند څهٔ
رضا چې وي دَ زړهٔ پکښې نو هر يو کار ښائېسته شي
او بې رضا چې ؤشي نو تړون او پېوند څهٔ
پښتونه هره لاره د دې پت غېرت ګواه ده
چې بې ننګه راستون شي نو تپه او مېوند څهٔ

ښائېست ستادَ وجود دَ ځار دَ عشق پهٔ برکت دے
زما د لاس بنګړي پرې نهٔ کړي شرنګ نو مړوند څهٔ


www.pukhto.net

◇

هغه زما دَ لېونی مینې اقرار نهٔ کوي
بې صبره زړهٔ مې دے یوه لمحه قرار نهٔ کوي

دَ محبت رنځ دې زیاتېږي زړهٔ ته ښهٔ کوزیږي
بس خو رنځیږي هیڅ څهٔ فرق دې بیمار نهٔ کوي

مخکښې به ستا پهٔ یو نظر باندې ژوندے شوم مړ شوم
اوس دې لېمهٔ زما دَ زړهٔ پهٔ کور کښې لار نهٔ کوي

دَ ګټې خیال ورپکښې نیشته سراسر تاوان دے
لهٔ دغې وېرې څوک دَ مینې کاروبار نهٔ کوي

ما خو ستا لاس لیدو لستونې کښې مې مار نهٔ لیدو
هر څهٔ کوي خو پهٔ اعتبار کښې څوک ګذار نهٔ کوي

پهٔ خپلې هاغه نظرېې باندې ښهٔ کلک ولاړ دے
راشه ولاړ دے دَ مېدان نه تېښته ځآر نهٔ کوي



www.pukhto.net

## بندې دروازې

لا څهٔ خبر ووم چې دَ مینې پهٔ اظهار خفه شوه
پهٔ دے خبره یې زما له خوا نه منډې کړلې
چې مې دَ زړهٔ پهٔ کور کښې یو هم ښکلے پاتې نهٔ شو
ماهم له ډېرې مجبورۍ دروازې بندې کړلې

## نو غزل شي

دَ جانان دَ ښکلې مخ دومره قصه ده
ښائیستونه ترې را ؤڅاڅي او ګل شي
مونږه درد او غم یو ځای کړو غزل نهٔ شي
او دے اوکړي دوهٔ خبرې نو غزل شي



www.pukhto.net

◇

دَ دې خېرې ګرېوان مې ټول جهان په تماشه
رقيب په تماشه دے هم جانان په تماشه

زما دَ خُلې نه وتې ساندې واورې په خندا شي
په سر چې مې ولاړ دے دا آسمان په تماشه

دَ مينې لېونتوب ته زما لوړې حوصلې ته
زنځير په تماشه دے هم زندان په تماشه

جانان زما په سترګو کښې خپل ځان سينګاروي
او زۀ دَ آئينې په شان حېران په تماشه

دَ سترګو خمارونو ته دې جام د مئيو توئ شي
ساقي ګوته په خلۀ شي او رندان په تماشه

زړۀ اوکړې ور روان شي پښه نېولے شې په شا شې
يه ځاره ! ستا پخپله دے خپل ځان په تماشه



www.pukhto.net

◇

يــــې په خپله بــــې يقينــــه
كـــــۀ زما په ذات دې شک دے

چې زړګے مې پـــرې راتـــول وۀ
هغه يـــــــار رانه ورک دے

هســـې نه چـــې بـــې وفا شـــې
دا زما په زړۀ کښــــې ترک دے

دَ قلم دَ زور خبــــــــــــر شه
ستا په لاســـو کښې ټوپک دے

زۀ به بيا پـــرې راپـــرېــوځم
هغه لار هغه تينــــــدک دے



www.pukhto.net

زۀ يــې ځکــه پۀ ملا مات کـړم
دَ مغل ســــــــره ختېک دے

دَ ستم معنــــې دې ډېـــــرې
بې رُخي دې پکښـــې سک دے

خود داري چــې پکښــې نۀ وي
نو پۀ قــــام قبيله سپک دے

ما هم زړۀ ورته سنـــــدان کـړو
که دَ يـــــــار سره ستېک دے

دا چـــې ما نيمګړے وينـــې
کړے غم دې رانــه چک دے

ستا ستم خو پــــرې ښۀ لګــي
ځاَرد غو ښي دے خو کلک دے

دې خــــود غرضــــي دنيا ؤنۀ ليده
خلکو زمونـــــــــــړه رضا ؤنۀ ليده

دَ کانـــــې زړۀ ګيله مې هـــــــر چا کړله
دَ اوښکـــــــــو ليکه مې چا ؤنۀ ليده

قسمت مې ځـــــومره زورَوره ؤکــــــړه
هغه راغلـــــــــــې وه ما ؤنۀ ليده

پۀ سپين صبا پســـــې مو زړۀ ؤچاودو
خو مونـــــړ تور بختــــــو رڼا ؤنۀ ليده

لکه دَ واورې جـوړ لۀ واورې يخ وو
ما پۀ جانـــــان کښــــې وفا ؤنۀ ليده

دَ ځاؔر پۀ سترګــــــو کښې وه ډيره مينه
پۀ تا ښکاره نۀ شـــــــوه تا ؤنۀ ليده



www.pukhto.net

◇

دَ ژوند پۀ لويــــو دشتــــو مې شيندې کله نا کله
اجـــــزاء مې دَ وجـــــود راټــــولوې کله نا کله

و الله که مې نظــــــــر دَ هغه لارې نه راوړې
پۀ کـــــــومه چې به تۀ ماله راتلې کله نا کله

معنىٰ دا چې پۀ ښکلې لا شعور کښې دې ډېره يم
ډيــــــوې چې پۀ مــــزار مې بلوې کله نا کله

معنىٰ دَ لړزولو خو دې ستــانه سرے زده کــــړي
ګلان چې پۀ زلفانـــــو کښې ټومبې کله نا کله

منمه چې دَ وصل پۀ خــــوږو باندې دې خـــوږ يم
دَ هجــــــر پۀ لمبـــــو مې سوزوې کله نا کله

پۀ مونږه دې پې مخيه ديدن ولې دے قات کړے
پۀ بام لکه سپـــــــوږمۍ به راختې کله نا کله



www.pukhto.net

دا څۀ رنګه به ستا دَ ذات دَ خُــوله رابهــر شم
پرهر کښې مې دَ درد غوندې ساتې کله نا کله

ښائېسته لېونيه دا خپل ځــاۤر به لېونے کــړې
ادا کښــې چــې اورونه ځايــوې کله نا کله

## غوښتنه

دَ فطـــرت حسن پرست مې تقاضه ده
نوې غواړي دَ زړو چې مې زړۀ موړ شي
دا زړګے مې څۀ بلها تنـــــدې وهلے
په ديدن دَ ښکلو ښکلو به څۀ موړ شي

اے دریغه چې دې اوښکه د لېمـو نه وتے نهٔ وے
خمار به وے عمـري چې دَ کاڅـــو نه وتے نهٔ وے

دَ ژوند سختـــې مې اولېدے نو هله ارمان راغے
افسوس دَ مور دَ غېـږې دَ زانګـــو نه وتے نهٔ وے

دا څهٔ درباندې اوشـو دا پهٔ کـــــومه لاره لاړې
پُښتونه چې پهٔ ژونـد خو دَ پُښتـــو نه وتے نهٔ وے

یـاران چې کله شماري ما تـرې اوباسي له مینځه
محراب لکه لهٔ شمېـره دَ تسبـــــو نه وتے نهٔ وے

دَ خپل اولس دَ پـــاره دا ارمان دَ ځاّر پهٔ زړهٔ کښې
چې سوز پکښې ژوندې وے دَ ټپو نه وتے نهٔ وے

## ورک یمه د ځانه

دَ سترګـــو رنګ مې دَ جانان په ګلـورین وجود کښې
داسې ورک شوے دے چې اوس خپلې سترګې نهٔ پېژنم
زهٔ به پهٔ تپـــو هم دَ خپل مرکـز پهٔ سـر اودرېــږم
کهٔ هر څو ورک شم پهٔ کوڅو کښې خو کـوڅه پېــژنم

## دوه شعرونه

زما دَ زړهٔ غـــوندې درزا پهٔ هیڅ یو څیز کښې نهٔ وه
ستا لېــونۍ غوندې ادا پهٔ هیڅ یو څیز کښې نهٔ وه
ماته چــې څومره ښکارېــده دَ فاصلــې ښکلا وه
چې ورنـزدې شومه ښکلا پهٔ هیڅ یو څیز کښې نهٔ وه



www.pukhto.net

## خوب

ذهنـــي بې قلارۍ سره خوب چرته کښې کېدهٔ
دَ داســې بدبختۍ سره خوب چرته کښې کېدهٔ
يو تهٔ وے پهٔ لېمــو کښې تــر سحره غړېدے
دَ ستورو دَ سيالۍ سره خوب چرته کښې کېدهٔ

## د لستونې مار

پهٔ تـــوره شپه ورسره تلمه هم پهٔ پټــو سترګــو
پهٔ خپل قاتل باندې مې څومره غټ اعتبار کړے دے
کهٔ يــې وژلم پهٔ سينــــه به يې ويشتلے ؤمه
خفه پهٔ دے يم چــې دَ شا نه يې ګـــذار کړے دے

◇

مونږ محبت کړے دے مونږ دَ درد قصې کړې دي
تل مو دَ زړۀ پۀ منصف خپلې فېصلـــې کړې دي

ځــــان به دَ هاغه تصـــور لۀ قېده څنګ اوباسم
ما مې دَ يار پۀ څنګل څومره بلها شپــې کړې دي

دَ زړۀ پۀ دشت کښې اودې شوې جذبې سر چوَتوي
دَ غرۀ دَ سره چې شپونکـې سُوې تپــې کړې دي

دا چې مې سر او تند ے نۀ لګـــــي پہ مخه ځمه
زر چې مې خاورې شو دا چا راته ښېــرې کړې دي

ســوز مې دَ زړۀ دَ کائېنات پۀ وسعتونــو خور شو
زمکـــه خفه ده شفقونــــــو هم لمبــې کړې دي

درد کهٔ لـــــــرمه بې تکـــــوره نهٔ يم
منمه ورک به يم بې کـــــــوره نهٔ يم

ستا بې رخئ مې زيـړ زبېخلے دے رنګ
زهٔ وېريـــــدلے لهٔ پېغــــــوره نهٔ يم

دا دَ حالاتـــو مجبـــوري ده ګنـــې
ستا محبت وينم شمکــــــوره نهٔ يم

لا د هجران دشتـــې پهٔ پښو کښې نغاړم
لا زهٔ وتلے دَ دې اوره نهٔ يم

ځاره! پهٔ سر باندې مې ستا سيورے دے
نـــن يې وې زهٔ ګـــورے سر تـــوره نهٔ يم


www.pukhto.net

## خبره

هر ځل دې کړې ده پخه خبره
چاله تــــرخه چاله خوږه خبره
بلها خبـــــرو لره بس ده کنهٔ
ستا دَ لېمـــو هغه يوه خبره

## پوره نهٔ شوه

زما دَ محبت قـــيصه نيمګړې نيمه خــوا ده
دَ درد او دَ درمان قيصه نيمګړې پوره نهٔ شوه
پُښتـــون دَ سوز و ساز دَ زېر وبمه خبر نهٔ شو
ملالـــې دَ مېـوند ټپه نيمګړې پوره نهٔ شوه



www.pukhto.net

## بل ته مسئلې

پهٔ رڼا ورځ باندې دَ تــــورې شپې خبرې کوي
پهٔ زړهٔ سندان پهٔ خلهٔ پستې پستې خبرې کوي
واعظ سپېره چــــرته دَ خپل عادته وانوړېدو
پهٔ لاره هم ګــوره اوږدې اوږدې خبـرې کوي

## پټ پټوني

دا ښکلي چې پهٔ سترګو کښې اورونه وړي راوړي
دا څومره پهٔ اســـانه زمونـــږ زړونه وړي راوړي
دَ حسن دَ مستئ نه پټ پټـــوني راسره کـــړي
پټيــږي ښکاره کيــږي او يـــادونه وړي راوړي



www.pukhto.net

لا وینې وینې سحر هغسې دے
وران شوے کور او کنډر هغسې دے

ما لا دا شته مړي ژړلي نۀ دي
او ستا پۀ لاس کښې خنجر هغسې دے

د روایاتو ساه ختلې نۀ ده
راځه جانانه ګودر هغسې دے

دغه مزل مې ساه پۀ ګونو کښې مات کړي
ګرانه! پۀ لار کښې دې غر هغسې دے

دَ مودو پس مې هم لمبه لمبه کړي
ستا دا ښاغلے نظر هغسې دے


www.pukhto.net

دَ پسرلـــــــــو وطن ته مۀ رادرومه
لا ســـر او مال ته خطـــــر هغسې دے

نۀ سترګـــې تـــورې نۀ لاســـونه سرۀ دي
ځاره ! دَ کلــــــي اختــــر هغسې دے

## دَ زندان یاد

دَ زندان دا تکـــې تـــورې شپې صبا کړه
لویه خدایه دواړه سترګـــــې مې رڼا کړه
تۀ په هـــــر څۀ باندې پوهه يې قـــادره !
چې پۀ زړۀ کښې مې څۀ دي هغه ربښتیا کړه



www.pukhto.net

◇

زما پتنګ زړګـــــــــــي له يې لــمبه رانهٔ وړه
جانــــــان دَ ځان ســـره څهٔ نـــوې حادثه رانهٔ وړه

د اســې هم ؤشـــــوه دَ حالاتــــــو دَ ستم له مخه
تا سترګـــې تـــورې نهٔ کړې ما درله رانجه رانهٔ وړه

ځان مو تـرې راوړو روايات مو تول پهٔ ځای پرېښوده
اے ! پښتنـــــو دَ غـــــره دَ ســــــره مو ټپه رانهٔ وړه

ستا پهٔ ستم او نــــــاکـــــــړدو لکه د بُت خامـــوشه
عمـرونه تېر شــو خو ما شونـــــډو له ګيله رانهٔ وړه

ساقـــــي خبر شه چې دَ هوشه زما ســـر به ؤچـــوي
کهٔ تا دَ ځـــــان سره يــــــوه مسته پېمانه رانهٔ وړه



www.pukhto.net

◇

دَ زندان پۀ کوټ کښې پروت يم تورتمونه مې نصيب دي
پۀ درزا مې زړۀ اوباسي وحشتونه مې نصيب دي

مايوسي چې شي راجمع يوه لاره تربڼه اوځي
اطمينان چې راله راکړي ستا يادونه مې نصيب دي

زۀ خزان وهلې پاڼه چې پۀ کوم لور به پرېوځم
دَ پړاو مقام مې نيشته طوفانونه مې نصيب دي

نمَر پرست يمه لا ليه پۀ رخسار پسې دې ګرځم
بس هم دغه مې ژوندون دے چُورلکونه مې نصيب دي

تور باڼه او توري سترګې خداګانې پرې غضب دي
ځاَره ! هر نظر مې وژني قيامتونه مې نصيب دي



www.pukhto.net

◇

تــولو دروغ وئیل رښتیا خبـــره چا اونهٔ کړه
دَ آئینـــې پهٔ شـــان صفا خبـــره چا اونهٔ کړه

چې ګنـــاهګار او بې ګناه پهٔ یـــوه تلهٔ تلـــي
دَ دې نظـــام دَ خـــرابتیا خبـــره چا اونهٔ کړه

رایادېدو راته سم ډېـــر مې پهٔ زړګـــي وربـــدو
دَ هاغه ښکلـــــي بې وفا خبـــره چا اونهٔ کړه

دا غریبو نیولے احساس دا دَ نم نه ډکــې سترګې
ژړا ژړا ده دَ خنــــــدا خبـــره چا اونهٔ کړه

دلته کښې هر یو کَس دَ خپل ؤسه تیارې راوړي
یـــارانـــو ! دلته دَ رڼا خبـــره چا اونهٔ کړه

تهٔ دَ رواج دَ زړهٔ بنـــدي زهٔ د حالاتـــو مجبور
ځاَره ! زمونـــږه دَ رضا خبـــره چا اونهٔ کړه


www.pukhto.net

ځه چې لېونــــي شــو ځه چې دا هــر چاته اووايو
مونـــږه مئينـــان يـــوو ځه چې دا دنياته اووايو

دا تيــارې زمونـــږه نهٔ دي دا دَ جهل نخښــي دي
راشه بېــــــرته راشه راشه دا رڼا ته اووايو

بس دے کنه بس دے ؤشوه نور دې مونـږه نهٔ وژني
څوک به راســـره شي چې دَ يـــار ادا ته اووايو

مونـــږ دَ خپل نصيب هغــې رڼا ته رسېدلـــي يو
نـــوره دې تيـــاره نهٔ وي دا صبا ته اووايو

دلته اتـــلان دي دَ نـــړئ هـــر کَس ته اووايه
دا دَ ملاکنـــډ دَ ســــردرو هـــوا ته اووايو



www.pukhto.net

## د سترګو په لار

دا دَ سترګو په لار چرته کښې بيا درومي
د الفت احساس په زړهٔ دے او که نۀ دے
ما پهٔ نيمو نيمو شپـــــو چې لېونے کړي
دغه درد دَ مينـــې ښهٔ دے او که نۀ دے

## اعتراف

ګنهه دَ بل ده او تــــــاوان زما دے
دَ خپل وجود دَ دېوال سپورے يمه
خدايه !دَ بدو دَ ازمېښت مې ساتهٔ
دَ نفس غـــــلام يمه کمزورے يمه



www.pukhto.net

ښهٔ یمه که بد یمه پهٔ ځان باندې تاوان یمه
چاته به یم زمکه خو پهٔ چا باندې آسمان یمه

راشه دَ ظالم آرمان کانې دې دلته اوګوره
ټول یم شوکې پُوکې سم ریښې ریښې ګرېوان یمه

زهٔ دَ زړهٔ دَ درد او سوز قیصو داسې مجبوره کړم
اوګوره مې سترګو ته شېبې شېبې باران یمه

زهٔ د ذات دننه ځان له بله دنیا ګورمه
یون یمه سفر یمه منزل یمه کاروان یمه

ستا د جادوګرو سترګو هر ځل بلا اخلمه
ستانه به لوګې شم ګرانه ځاڅ یمه قربان یمه



www.pukhto.net

◇

چې شعور او لا شعور شي وړاندې وروستـــو
سر کـــــــدو دے څهٔ نشه ورله پکار ده

اوس دَ خپلو روايــــاتـــو پهٔ مرګ نهٔ مري
پښتــــــانهٔ دي خـــو تپه ورله پکار ده

دا واړه اوس بې قصـــــې نهٔ اودهٔ کېـــږي
ابــــــې چــــــرته ده قصه ورله پکار ده

دَ زړګـــي نه به مې ســوز و ســاز راوځـــي
دَ غمونــــــو ســــــرينده ورله پکار ده

چې خپل بد ورته دَ عکس غوندې څرګند کړي
ځـــــآره داســـــې ائينه ورله پکار ده



www.pukhto.net

دَ خپل قسمت دَ برخې خان راباندې نهٔ پو هیږي
خدایه دا څهٔ دي چې ارمان راباندی نهٔ پوهیږي

دَ خپلې مینې او خلوص قصه به چاچا ته کؤم
زهٔ په ځان پوهه یم یاران راباندې نهٔ پوهیږي

زما دَ سترګو نه زما د زړهٔ خبره واخله
هر ځل به څهٔ وایم جانان راباندې نهٔ پوهیږي

دومره وهلے یم دَ هجر جل وهلي تندي
څنګه خروب شمه باران راباندې نهٔ پوهیږي

ځاره ! عبث مې ګرځوي پهٔ طبیبانو باندې
داسې مریض یم طبیبان راباندې نهٔ پوهیږي


www.pukhto.net

◇

دَ زړهٔ زخم دَ درمـــــان دَ پـــاره نهٔ وهٔ
تـــار دَ زلفـــو دَ ګـريوان دَ پـــاره نهٔ وهٔ

ستا دَ حسن ځښې سترګې ته مې خيال وو
محبت مې هم دَ ځـــــان دَ پـــاره نهٔ وهٔ

ما دَ خاورو دَ کورونـــــو خېر غوښتلو
ځکـــه ســوال مې دَ بـاران دَ پـــاره نهٔ وهٔ

دَ تيـــارو په ورکـــو لارو باندې سر وې
خس کړاؤ دې دَ ايمــــان دَ پـــاره نهٔ وهٔ

زړهٔ سواندي په دې وطن کښې نهٔ وه ځاره
يو انســـان دَ بل انســـان دَ پـــاره نهٔ وهٔ



www.pukhto.net

خبــــره دَ الفت دربـــاندې ښهٔ لګي کهٔ نهٔ
زما دَ لېونتـــوب ســـره دې زړهٔ لګي کهٔ نهٔ

دَ زړهٔ خبـــره کومه او صفا خبـــره کومه
دَ هســې دوه رنګۍ ســره مې نهٔ لګي کهٔ نهٔ

ورګـورمه احساس د ډوبېدلو راته کيـــږي
پهٔ تورو غټو سترګو کښې رانجه لګي کهٔ نهٔ

بس نـــورې به دَ مينې محبت خبـــرې نهٔ وي
دَ زړهٔ پهٔ دروازه بـــــاندې تاله لګي کهٔ نهٔ

چې دا دَ خلکو زړونه دَ خلوص پهٔ مزې تړي
پهٔ ځـــآر دَ بدنامۍ ښنګـــه ټاپه لګي کهٔ نهٔ



www.pukhto.net

# انتشار

تــول عمــر دَ وېــر سره انښتے يم
زۀ دَ خپل تقديـــــر سره انښتے يم

زۀ چې څۀ منم ضمير يې نۀ منـــي
بس خـــو دَ ضمير سره انښتے يم

دا په قېد خانه کښې مشغولا زما
شرنګ او دَ زنځير سره انښتے يم


www.pukhto.net

## د مورنیو ژبو نړیواله ورځ

۲۱ فروري

دَ پُښتنـــو دَ بـــام و دره چې وتله پُښتو
دَ خپل بچـو په بې حسۍ چې ژړېدله پُښتو
واړه سپېځلې روایات مو دم ختلي ښکاري
هاغه هم وخت وۀ پُښتنو چې به وئیله پُښتو

## پۀ هغه زړو لارو

پۀ هغه زړو لارو چې راتېر شم زړۀ مې ډوب شي
لېمۀ دَ اوښکـــو ډکـــې د جانان له یاده راوړم
رابلې مې پوهېــــــږمه خو څنګـــه درته اویم
وزرې ښکـــه روغـــــي دَ ظالم صیاده راوړم



www.pukhto.net

◇

ستا محبت هم دے انــا رابانـــدې هم ګــرانه ده
ستا بندګـــي جانـــانه دا رابانـــدې هم ګــرانه ده

زۀ په تــــورتم کښې هم خوشحاله یم تخلیق ؤکــړمه
اولس له دا غــــوارړم رڼا رابانـــدې هم ګــرانه ده

دَ سپرلي هر یو رنګ ښائېسته دے د ستائینې وړ دے
ادا دې ښکلـې ستا خنــدا رابانـــدې هم ګــرانه ده

هغه چې هر څنګ وي خو څۀ نه څۀ تــــړون پکار دے
وفا دې څۀ کــړې ستا جفا رابانـــدې هم ګــرانه ده

عقله ! ستا هم منم انکــــار له دې نه هم نۀ کــــؤم
دَ دې لېــــواله زړۀ درزا رابانـــدې هم ګــرانه ده



www.pukhto.net

## ستمګر

په زړهٔ لکـه کمـر يې ستمګره
پهٔ خـوی دَ جادوګر يې ستمګره
ظلمونه دې پهٔ سر سترګو اوړمه
زما دَ زړګـــي سر يې ستمګره

## سترګې

تا اوربدلي خو دا خوب هم زورور غوندې دے
زما درنـــې خبــرې ستا د خوبه ډکې سترګې
ما هم دَ ځان سره هـر وختــې زنګېدلے ساتې
زما پهٔ زړهٔ کښې دي دَ چا دَ خوبه ډکې سترګې



www.pukhto.net

## د هاتي غاښونه

 څوک د ے خوا خوږې ؟ څوک مئين د پُښتو
دېـــــر يې ارزان خرڅ كـــــړو وطن د پُښتو
چې ماليــــاران يې خپل غرض راخيستي
زاغانـــــو لوټ كـــــړلو چمن د پُښتو

## پښتو

اوس خو به مونـــــږه دَ پُښتـــــو د زړهٔ زخمونه ګنـــډو
کوم چې ښاغلي وو هغوی خو ترېنه پښې ويستې دي
اوس به دَ چا دَ دېـــوال سيـــــوري ته هم نهٔ كښېنمه
اوس مې دَ ژوند نه څهٔ بلها نـــــوې معنې ويستې دي



www.pukhto.net

ځوک چې دَ ظرف خاوندان وي پۀ هغو کښې ګوري
قدرت مې صبر پۀ ناکامه فېصلو کښې ګوري

زما په سر چې ځلے درب شو نو وریاد شوم ورته
اول يې نۀ پُوښتلم او اوس مې پۀ قيصو کښې ګوري

هغه څۀ څيز دے چې محسوس هم دے معلوم هم نۀ دے
څوک يې پۀ شعر کښې ګوري څوک يې پۀ نغمو کښې ګوري

کومې سودا داسې مقام ته رسولي دي دوی
دغه خبرې هوښياران پۀ لېونو کښې ګوري

خدای خبر ولې پۀ يوه يې تسلي نۀ کېږي
خپل سمبالښت لره پۀ ډېرو ائينو کښې ګوري

دَ دې انداز يې ځار، پۀ ځو ځو واره بيا مئين شم
جانان چې ځي زما له خوا نه نو پۀ تلو کښې ګوري

ځار يوسفزے

مینـــــې دې وژلے یم
هســــې موسېدلے یم

یاد مې که جانان دې یم
ستا دَ خیـــال وتلے یم

داسې رنګ او پنګ یمه
سم دَ ارمـــــان ځلے یم

مهٔ ګوره اوس ما ځینې
لـــــرې درنــه تلے یم

څهٔ درته وئیل غـــوارم
ځکـــــه غلے غلے یم

اوکړمه دعــــوىٰ پهٔ چا
مړو سترګـــو وژلے یم



www.pukhto.net

وېــره تـــرهه نهٔ لـــرم
اوس پهٔ دار ختلے یم

نهٔ کـړمه اعتبــار پهٔ چا
خپل رهبــــر لوټلے یم

اوس پهٔ بېـــرته نهٔ راځم
ګورت نه دې اوس تلے یم

دا چــې ســر ته نهٔ رسم
چا دَ ښېــــو نیولے یم

اخلمه قـــــدم پهٔ زور
څهٔ کښــــې انښتلے یم

ځاړ لکه منصـور پهٔ دار
ښهٔ پهٔ ویــــاړ ختلے یم



www.pukhto.net

◇

زمونــــږ په سیمه خنـــــده رویه دَ ګلـــونو سپرلے
خدایه مدام لرے پۀ مونږ دَ بارانــــونـــــو سپرلے

زۀ یې دَ مینـــــې پۀ احساس باندې تــــازه ساتمه
زما په زړۀ کښې دے ښائښته ستا دَ یادونو سپرلے

دَ پښتـــون غولے دې دَ ژوند دَ خوشـــالو نه ډک وي
داســـې شریک غـــوارم دَ دوی دَ اتڼـــونو سپرلے

دا نظـــاره به دَ دنیا پۀ هیڅ یو ښـــار کښې نۀ وي
پۀ پېښـــور کښــــې دَ رڼا دَ ماښامونــــو سپرلے

راشئ که ځان له ترې خُمار اخلۍ مستي ترې اخلۍ
قدرت خور کړے دے مخمور دَ شرابــــونو سپرلے



www.pukhto.net

نۀ مونـــــږه تېښته کوؤ نۀ دَ قـــربانۍ وېريــــږو
خدايه ! په څۀ بيا مـــرور دے دَ وختـــــونو سپرلے

هـــر يو ارمان پکښې زلمے شي غزونـــې اوکـــړي
دَ ګل پۀ پاڼـــــو به ليکم دَ ارمانـــــــونو سپرلے

چـــرته راپيښه دي جانان زمونـــږ پۀ کلـــي اوکړي
يۀ ځاّره ! مونـــږ ورله ساتلے دے دَ غــرونو سپرلے

## توره بلا

يه تنګ نظـــــرو پۀ تيـــارو مئينو
دَ ګل پۀ شونډو خندا نۀ شئ ليدے
داسې دَ ذات تــــورې بلا اوخوړئ
چې پۀ ډيوو کښې رڼا نۀ شئ ليدے



www.pukhto.net

زهٔ دَ کمـــر نه دَ ښائېست بلها معنـــــې اوبـــاسم
زما شاعر فطــــرت هيڅ کله بد رنګـــــي نهٔ مني

ما که په دار کـــړي خو دا سر به داسې لوړ ګرځـؤم
خود سره ســـر مې دَ بنديـــانو بندګــــي نهٔ مني

هــر څهٔ کهٔ کېـــږي خو باور له مينځه مهٔ اوبـــاسه
ياري هـــر څهٔ منـــي، ياري ! ياره ټګــــي نهٔ مني

زما جانـــــانه دَ دروغو يـــوه وعده رښتيا کــــړه
ځان مې پـــرې مړ کړو خو جانـــان زما بېخي نهٔ مني

چې سنګار اوکړي پهٔ ګلاب رخسار يې داغ پرېوځي
دَ جانـــان حسن عجيبه دے چې شوخـــي نهٔ مني

پهٔ هــر هنـر په هـــر صفت چې اړوې يې خـــاورې
ځــــاره! واکــدار زما دَ خاورې ګلالــــي نهٔ مني



www.pukhto.net

◇

د ښا ئېستونـــو دَ ګــــودر په غاړه
دَ تنـــــدې مرم دَ سمنـــــدر په غاړه

وېمه چې څوک به ستا په شان ښکلې وي
زهٔ ستا تصويـــر کـــړمه سحر په غاړه

زهٔ دې دَ مخ نه لکـــه زمکـــه څُـــورلم
ژوند مې تېريګـــي بس دَ نمـــر په غاړه

يقيـــن مې هغه دے ګمـــــان مې هغه
دَ بامبړانـــــو دَ منـــــــدر په غاړه

ما دَ ملګــــرو دو رنګـــــي ژړوي
خـواږهٔ په لاس کښــې او خنجر په غاړه

دَ ځـــآر هم دا پېژندګلـــو پــــوره ده
هر وخت يې پروت وي تور څادر په غاړه



www.pukhto.net

◇

بيا کاڅې ټــولې نسکورې کړه او بس
خو داسترګې مې مېخورې کړه او بس

کهٔ دَ مرګ سودا مې وي درته منظوره
دغه دوه سترګې دې تورې کړه او بس

زهٔ اخـر يمه اول يم ستا پهٔ عشق کښې
دروازه دې دَ در پـــــورې کړه او بس

دَ ستم دا سلسله کـــــړه پهٔ دې ختمه
دغه شته لمبـــــې راپورې کړه او بس

دا ماحول به دَ تيارې لهٔ خوند خبر شي
تـورې زلفې دې سمسورې کړه او بس

ځاَر ته اوښايه کمـــــــال دَ محبت
څهٔ کانې راباندې نـــورې کړه او بس



www.pukhto.net

◇

دَ کــــردار دَ خاوندانـــــو ګفتار نهٔ وي
دَ ګفتـــــار دَ خاوندانـــــو کردار نهٔ وي

زهٔ دَ خپل ﷻ الله پهٔ رحم باندې ويــــــــاړم
ماله هلته کښې لار راکـړي چې لار نهٔ وي

هُم راګــوري هم دې سترګې تــورې کړي
خنګ به وايم پهٔ لېمــو کښې ګذار نهٔ وي

يه زما دَ دې ســـړې سينـــــــې جانانه
چې ستا ولې پهٔ يو کار کښې تلوار نهٔ وي

زهٔ دَ خدايه دا دعا هــــــر ځلې غــواړم
ستا پهٔ شــونډو دې هيڅ کله انکار نهٔ وي

شل دې راته اووې او يـــــــوې ته دې پرېښودم
داسې دې خاموشه کـــړم ګيلـــې ته دې پرېښودم

ما پکښې دَ خپلې مينــــې درد ګـــويانه کړے دے
زهٔ له ســــــوزه ډک وومه تپــــې ته دې پرېښودم

ټوله شپه پهٔ هجر کښې زما پهٔ زړګــــــي څهٔ تېر شو
دغــــــه مې وئيـــل درتـــه هغــــــې ته دې پرېښودم

بيا تاريـــخ پخپله باندې ځان راستونــــؤلــــو خو
زهٔ پهٔ هغه دار هغــــې نعـــــــرې ته دې پرېښودم

څنګه دې تارونه دَ ګرېـــوان راله راټـــــول کړلو
خداى خبـــر چې ولــې تماشـــــې ته دې پرېښودم

ځــــــآر شمه انا چـــې سر لوړے دې راله اوساتهٔ
ښه شـــوه چې دَ ښکلــې دروازې ته دې پرېښودم


www.pukhto.net

# مینه
# حوصله
# او
# امید

مینه دې دَ ذات دَ دېـــوالونـــــو نه را اړوي
خلک دَ انا دَ لوی بریـــدونـــــو نه را اړوي

توره مایوسي به دې دَ زمکې تل ته یوسي خو
لـــــوړه حوصله به دې دَ غرونـــو نه را اړوي

اخوا دَ لمبو نه به ګلشن دَ سرو ګلونــــو وي
هڅه او امېد دې دَ اورونـــــــو نه را اړوي



www.pukhto.net

# ځار لېونے دے

دَ عاشقانــــو لارې چا نيـولـــې
زما يـــاران دې ماته لار نۀ نيســـې

لۀ وېخه اوځـي او پۀ اور ؤســـوزي
دلته چې کـــومه وُنه بار نۀ نيســـې

دَ چا چـــې تُـــورې دَ الفت ازده وي
هغه ياران ځان له پۀ شمار نۀ نيســـې

دې مېخانه کښې لاس دَ برې کار دے
ځارؔ لېـونے دے پۀ زور وار نۀ نيســـې



www.pukhto.net

◇

نۀ دَ چا زړۀ ته ګــــوري نۀ دَ چا ځيګـــــر ته ګوري
دا ښکلـــي چـــرته دَ مئين دَ زړۀ پرهـــــر ته ګوري

زۀ چې دَ هـــر يو ښکلې سترګـــو ته پۀ زير زير ګـــورم
سړے چې تګـــې وي نـــو خود به سمنـــدر ته ګوري

ستا دَ راتلو حسرت يې اوس هم پۀ لېمۀ کښې پروت دے
پېغله پۀ دې ارمـــــان چـــې ځي راځي نو ور ته ګوري

پۀ ســـور تاړاق کښې ســـــوزېدلے جل وهلے مـــزدور
بلها ســـوالونه پۀ لېمو کښـې ځای کـــړي نمر ته ګوري

هر يــــو انسان دَ خپل فطـــرت پۀ ائينه کښې ښکارې
دا ځينـــــې نۀ کـــوي دَ خېر خبــــره شر ته ګوري

ورته هيڅ نۀ دي لوئ ، دشتـــونه دي کۀ لوړ دي غـــرونه
ځاړ خپل منــــزل ته ګــوري ، ځار کله سفر ته ګوري



www.pukhto.net

◇

څوک دے چې زما دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي
ښکلـي بيـا دَ چا دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي

زهٔ دَ محبت دَ عقيـــــدې سړے
ځکــه مې ر ښـا دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي

لاړه شـــي دَ ذهن نه مې اوځـي خـو
هغه بـــې وفــا دَ زړهٔ نه ، نه اوځي

شنه چـــې دَ خندا نه پهٔ شا لاړه شـــې
ستا مې دا ادا دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي

هر ځلې دروغ اووايــــي لاړه شي
هر ځل پهٔ ريښتيا دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي

اوس يې پهٔ اســانه کـــوزوې زړهٔ ته
ځاّره ! کورے بيا دَ زړهٔ نه ، نهٔ اوځي



www.pukhto.net

## سر په زنګون

پۀ تنهايۍ کښې غلي ژاړمه
دَ خپل ارمان پۀ ځلي ژاړمه
خدايه دا څۀ اوشو پۀ کلي باندې
دَ ځان سره پۀ کلي ژاړمه

## ګرانې مرحلې

درد پۀ اسوېلي کښې ځائيول دي
تا کۀ هېرول کۀ يادول دي
ختمې چرته ګرانې مرحلې دي
ستا دَ کوځې خاورې ښکلول دي



www.pukhto.net

چې جنګ يې پهٔ صلا رضا زمونږ کلي ته راوړهٔ
جنګـــې نهٔ يم مجبـــــور يمه سنګرې جوړؤم

اثـــر به خامخا لري زما دَ زړهٔ خبـــــــــره
چـــې زهٔ دَ درد له څړيکـــو نه سندرې جوړؤم

الوزم دَ اسمـــــان دَ هاغه سر پــــــورې الوزم
الوت له به څهٔ دا رنګـــــــــې وزرې جوړؤم

زما لاســونه سترې دې لهٔ جنګه سترے نهٔ شو
پښتــون له به تـــــر څو پورې دا زغرې جوړؤم

څهٔ اوکړم دَ شاعر فطرت مې دغه مجبوري ده
پاګل يم پهٔ خبــــره کښـــې خبـــرې جوړؤم


www.pukhto.net

چې راشي دَ ځاّر زړهٔ له بـرکت ورسره راوړي
لګیـــــا یمه دَ غم نه دې لښکـــــرې جوړوم

## غم او خوب

زما پهٔ ستړي وجود بار دا ستړے ستړے ژوندون
یـــاره چې ستا غېــرږې له درشم نــــو دمه به شمه

څهٔ دَ جانـــــان غمـــونه دي څهٔ دَ دوران غمـــونه
چې دا غمـــونه ټـــول اودهٔ کړم نــــو اودهٔ به شمه



www.pukhto.net

ځان کړه ژوندے دَ پرهرونـــو خُلې دې وا اوساتهٔ
پهٔ چـــراغونـــو کښې دې زېـــرے دَ رڼا اوساتهٔ

هـــره چینه گورے دَ تنـــدې ماتـــؤلو نهٔ وي
تندې کهٔ هـــر څهٔ کـــړې خو خیال مې دَ انا اوساتهٔ

زهٔ دې هم داســـې گلـــورینه گل بدنه غـــواړم
خبـــر که ما وژنې خـــو قیمت دې دَ ادا اوساتهٔ

خطونه هم سبزې پېزوان بنگړې دې هم واپس کړه
څهٔ یـــوه نخښه خـــو دَ ځـــان سره زما اوساتهٔ

دیـــدن به وُشـــــې که امېد دَ دغه دره ساتې
دغه کـــوڅه دَ لېـــونې پښـــانې بیا اوساتهٔ

ځاره ! وردرومه کلکې غوټې به هم سر پرانیـــزي
منزل اســـان دے خو بس نیت دې لږ صفا اوساتهٔ



www.pukhto.net

## خواست

يه جادوګره ! ما ازاد کړه کنه
دَ ذات له قېده مې راخلاص کړه کنه
ستا دَ لېمو دَ سمندره وتَل
د دې غضب ښائېست دَ تله وتَل
زما پهٔ وَس کښې نهٔ ده ............
يه جادوګره ! ماازاد کړه کنه
په دې پنجره کښې به مې ساه ؤخيژي
ورو ورو رنځېږمه ............
توئېږمه زهٔ ....................
دَ خپل احساس پهٔ بادشاهئ مې پرېږده
دَ خپلې خوښې پهٔ خانئ مې پرېږده
زما اختيار ماته پهٔ بېرته راکړه
پهٔ ډکه خُلهٔ باندې خندل غواړمه
شوخي ، مستي او موسېدل غواړمه



www.pukhto.net

دغه اثر دَ شوګيرو تريخوالے
دَ خپلو سترګو نه وينځل غوا ړمه
بس دے ..................
دنيا ښائېسته ده ، ژوند ښائېسته دے
زما هنر ښائېسته ، روزګار ښائېسته دے
نور به دَ چا ذات ته کوزېږمه نهٔ ............
پهٔ دې پې مخو به نازېږمه نهٔ ............



www.pukhto.net

## K.T.H

دَ ښار په دې بې جوړه شور کښې
زمانه ځان ورکېږي لار ورکېږي
ماته آواز ؤکړه لالیه ....................
دَ خود غرضه مشینانو مینځ کښې
انسانیت خپله معنیٰ چې بائیلي
دَ زړۀ راښکونکو انسانانو مینځ کښې
دلته دَ هر یو څیز دکان چلیږي
دلته جذبات او احساسات خرڅیږي
دلته دَ ژوند بولي ارزانه لګي
دلته چرې دَ مسیحا تېرې دي
دلته دهوکه دَ داروګانو پۀ نوم
دلته زقم دي پۀ خوږو کښې نغښتي
دلته دَ ژوند دَ مسیحا پۀ طمع
دَ لړزېدلي ، دړدېدلي وجود ..........



www.pukhto.net

ساه پهٔ زګېروو او اسوېلو کېنې خېژي
دلته دَ درد او غم مفهوم بدل دے
دلته پهٔ سر که دې لمبې بلېږي
چرته توفيق دَ يوې لپې اوبو
دَ خداى پهٔ نوم باندې هيڅوک نهٔ کوي
دلته کېنې درد هم ستا دے ، غم هم ستا دے
دلته رواج دَ دلاسې نشته دے
دلته خبرې کړي ، پېسه خبرې
دلته غريب هډو سړے نهٔ دے ............
انسان نهٔ دے ...................
هله لا ليه ! !
ما دَ دې ځنګله لرې بوځه
دَ ختيو ګټيو کور ته ............
هغه ساده کلي ته ............
هلته کهٔ خېر دے مسيحا نشته دے
دَ ژوند احساس خو شته دے
هلته کهٔ خېر دے مشينان نشته دے
مينه الفت خو شته دے


www.pukhto.net

# تنده

زهٔ پهٔ ځان نهٔ پوهېږم
زما دننه دا دَ تندې احساس
ما لېونے کړي .....
ما پهٔ شړو سر کړي



www.pukhto.net

## دَ اردو نظم ژباړه

هوا ولاړه خو وهٔ
هغه ماښام چې وو سلګو نیولے
خدای زده هوا له څهٔ وئیلې وو هغو پاڼو ته
چې ټولې وُچې پاڼې
څهٔ وېرېدلې ، ژړېدلې ، لړزېدلې غوندې
هم دغه پاڼې دَ دې غم دلاسه
دَ خپل مرکز نه بیلېدلې ، رژېدلې ..........
ما لټولے ټولې وُچې پاڼې
پهٔ هره لار، پهٔ هر ډګر پهٔ هر یو غار او پهٔ غر ؤګرزېدم
خو ما ؤنهٔ موندلې ....................
بیا مې زړګے خپل دلاسه پهٔ دے کړو ..........
هوا به اودرېږي ....................
نو اوبهٔ ګورم
هم دغه لارې رامعلومې به کړم



www.pukhto.net

پهٔ کومو لارو چې هغوئ تلې دي
خو دا زما څهٔ خوش فهمي غوندې وهٔ
هم دغې خيال خو زهٔ تاله ترغه کړم
هوا ولاړه خو وهٔ ....................
يوه موده وهٔ تېره شوې پکښې
د تورو زلفو پهٔ ځنګل کښې مې سپين اولګېدهٔ
په اسمان ستوري پړقېدهٔ خو هغه ستوري نهٔ وو
هغه ګلونه نهٔ وو ............
په چا چې وه دَ زړهٔ دنيا آباده
هغه څوک پاتې نهٔ وو
دَ دې نه غټه الميه خو دا وه
چې تهٔ مې ځان نهٔ وې او زهٔ دې جانان پاتې نهٔ ؤم
هوا ولاړه خو وهٔ
يوه موده وهٔ تېره شوې پکښې



www.pukhto.net

# د هوا پهٔ چپو

تاته به نۀ در رسي ..............
خو دَ خپل زړۀ دَ تسلی لۀ پاره
دَ مینې ډک دَ سلامونو پېغام
دَ لېونی هوا چپو ته سپارم
چې دا دَ وړکو لارو یار له ورکړه



www.pukhto.net

# خله

دَ خلې يخه بوږنونکې هوا
دَ بارانه پهٔ تار پئېرلې څاڅکي
وُنې بربنډې او خاموشه غونډې
کور او دېوال دَ خاموشۍ پهٔ سولۍ
داسې ختلي چې هيڅ هم نهٔ وائي
مارغان ورغلي دَ وبا په خلهٔ کښې
ټول چاپېر چل دَ انځور ګر دَ ګوتو
يو پرېشانه شان تصوير ښکاري
دا خامو شي او دا ګونګ چاپېرچل
دَ تنهايۍ احساس له زور ورکوي
ځکه ورک يمه لهٔ خپله ځانه
دَ خپل وجود پهٔ دائره کښې نهٔ يم
لکه دَ وږي رانه زړهٔ خورېږي
لکه زما اجزاء زما چې نهٔ وي



www.pukhto.net

دَ ژوندانهٔ پهٔ دې نازکو اوږو
دا خپل وجود راته هم بوج ښکاره شي
دَ دې ماحول دَ خاموشۍ مزا خو هله به وي
چې ما پهٔ ځان کښې ځای کړي
زما دَ زړهٔ هر يو پرهر له ورکړي

ټکور دَ ترمو شونډو



www.pukhto.net

# تور او سپين

دلته کښې ډېر خلک دي
ډېر پکښې تور خلک دي
لږ پکښې سپين خلک دی
دا تور پهٔ توره وېنا ..............
سم جنتيان بولي
دا سپين پهٔ سپينه وېنا ........
سم لکه اور کښې سوزي



www.pukhto.net

# ماته ډېر يادېږي

سحر چې پاسېدم ..............
آسمان چې ډک مې دَ وريځ ؤلېدۀ
يوه شېبه پس باران هم راښکې شو
ما سره غم شو ..............
هاغه فکر يوړم ........
چې دا خو هاغه ورځ ده
تا چې به وې ..............
زما دَ زړۀ درمانه !
چې داسې ورځ وي ماته ډېر يادېږي



www.pukhto.net

## شلاون دَ درد او پرهر

تا چې به وې ............
راځه چې اولیکو نامې خپلې دَ ګل پهٔ پاڼو
دَ دغې وُنې پهٔ دې ډډ دَ مینې نخښه پرېږدو
دَلولکو دَ دغه شوخ رنګه جامې اوګنډو
دَ نزاکت هره ادا دَ خپل وجود حصه کړو
راځه! چې لاړ شو ............
دَ رنګونو پهٔ دنیا کښې ورک شو
راځه! چې شمار کړو دَ بوډۍ دَ ټال ښائېسته رنګونه
تا چې به وې ............
دَ خپلې مینې پهٔ پاکۍ چې کائېنات ګواه کړو
زمکه آسمان ګواه کړو
ستورې سپوږمۍ ګواه کړو
هر یو انسان ګواه کړو
تا به هم دغسې وې



www.pukhto.net

که چرې ستانه دَ بېلتون تصور ؤکړمه زهٔ
نو لېونئ به شمه مړه به شمه
خوشبو دَ ګل دَ کوره نهٔ ځي او هېچرې نهٔ ځي
پرهر چې وي ....................
نو دَ خپل درد يې شلاون نهٔ کېږي
چې تماشه وي تماشې والا به خامخا وي
زمونږ تړون چې هيڅ نامه نهٔ لري ............
دَ درد پرهر تړون دے ، دَ ګل خوشبو تړون دے
دَ زړهٔ او زړهٔ تړون دے
خو ....................
دا خبرې دي بس هسې افسانې ښکاره شوې
خوشبو دَ ګل دَ کوره لاړه او پهٔ مخه لاړه
شلاون دَ درد او دَ پرهر ځومره پهٔ اسانه ؤشو
تماشه وه خو تماشې والا ځوک پاتې نهٔ شو
تصور ؤشو تصور دَ بېلتون څنګه ؤشو ............
تهٔ خو هم هغسې يې
ولې تهٔ مړه نهٔ شوې څهٔ ؟ ....................



www.pukhto.net

## تضاد

خلک تور دي زړهٔ مې سپین دے
زړهٔ مې سپین دے خلک تور دي
دا تضاد دَ تماشو دے ............
چې زهٔ څهٔ یم خلک څهٔ دي؟
زهٔ دَ اور پهٔ سرو لمبو کښې
دَ ګلاب کؤم پالنه ............
دوئ لګیا دي پهٔ ګلشن کښې دَ سور اور تابیا کوینه
زهٔ الوت غواړم پهٔ بره
دوئ دَ زمکې تل ته درومي
زهٔ خبرې کوم شکرې
دوئ دَ زهرو ډک ماران دي
زهٔ قائیل دَ ازادۍ یم
دوئ قیدیان دَ یو قفس دي
زهٔ باغي دَ رواجونو



www.pukhto.net

دوئ پهٔ دغه خول کښې ګېر دي
زهٔ دَ خپلې مرضۍ خان يم
دوئ دَ بل دَ خلې سرې دي
زهٔ دَ مينې کروندګر يم
دوئ نفرت کَري پهٔ زمکه
زهٔ مطرب دَ سوز و ساز يم
دوئ کاڼه دي ، دوئ بې ذوقه
زهٔ تصوير دَ مصوّر يم
دوئ مې نهٔ ګوري ړاندهٔ دي
زهٔ حساس دَ ګل دَ پاڼو
دوئ بې حِس لکه دَ کاڼو
دوئ چې مَا پهٔ کاڼو وُلي
زهٔ شيشه يمه ماتيږم
دوئ مزاج دَ هواګانو
زهٔ دَ ګل غوندې رژيږم
زهٔ بقا چې دَ ځان غواړم
بغاوت به زما حق وي ..................



www.pukhto.net

## پښتون

مونږ تربګنۍ پښتون ولي ګڼلې
مونږ لا دَ ذات دَ ولقې نۀ يو وَتي
هغسې کوُو دَ ميا مُلا خبرې
غريب لا خان ته خان جي اوس هم وائي
پۀ پيغورونو يو بل اوس هم وژنو
سوَره زمونږ دَ جهالت نخښه ده
تربورولي مو پۀ لستوڼي کښې مار
ضد او عناد ښۀ دَ اعلا پايې کړو
اوږه مونږ نۀ ورکوو پښې راکاږو
پۀ تهمتونو جامې ښې رنګوُو
شر دَ بازاره سم پۀ بيعه اخلو
ښۀ دَ نشو او تماشو عادت يو
پښتو خو وايو خو پښتو نۀ کوو
دَ بې حِسۍ بريد مو ښۀ کلک نيولے

خار يوسفزے

www.pukhto.net

څوک چې څۀ ګټه غواړي دلته راځي
مونږه په هر مېدان کښې ښۀ لوبوي
کله چې چغه دَ مذهب وهي څوک
کله خبره چې دَ خاورې اوکړي
دا سادګان او بې وقوف پُښتانۀ
دَ خپل سرونو نذرانې وړاندې کړي
لکه دَ دوی دَ سر قيمت چې نۀ وي
لکه دَ دوی څۀ حېثيت چې نۀ وي
عجبه دا سرونه هم اوشيندي
خو قرباني يې هيڅ څۀ خوند اونۀ کړي
هغسې بې دره ، بې کوره ګرځي
هغسې يو دَ پړاو ځای نۀ مومي
دَ پُښتنو دا شوکې پوکې بچې
دَ ماشومتوب په مينه پوهه نۀ شو
سحر دَ نمر سترګه ختلې نۀ وي
دَ يو نمړۍ دَ پېدا اوښت په خاطر
خپلو کارونو له په منډه درومي
نۀ يې کتاب نۀ يې قلم اولېدۀ



www.pukhto.net

دَ ژوند دَ سره يې لوی غم اولېدۀ
دَ پُښتنو په شمله ورو خلکو
دَ دې اولس څۀ فېصله پکار ده
دوی دَ شعور په لاره ولې نۀ ځي
دَ يو مرکز نه لرې ولې تختي
دَ يو امېل دانه وانه پُښتانۀ
په يو امېل کښې بيا پېرل غواړي
چې دَ قامونو دَ سيالۍ جوګه شي
زمونږه غټه الميه خو دا ده
څۀ ژرنده پسه څۀ دانې لوندې دي
څۀ اوبۀ خړې څۀ کبان ړانده دي
دَ ژوند شوې ټولې تقاضې بدلې
لارې دَ زمکې نه اسمان ته لاړې
لاروے سور شو دَ هوا پۀ اوږو
دَ نوې لارو دَ لټون دَ پاره
دَ خلاګانو پۀ دنيا کښې ورک شو
پُښتون چرګان او مرزان جنګوي
يه پۀ ګاړه ولاړ بد مست پښتونه !



www.pukhto.net

پۀ خدای که ځان دې پېژندلے نۀ وي
دَ چا غاصب دَ قدمونو لاندې
هسې به والوزې دَ دوړې پۀ شان
هغه انګڼ چې چا لېدلے نۀ وو
هغه انګڼ شو دَ پردو ګامونو
هغه دېوال چې چا سر کړے نۀ وو
هغه دېوال دې ښکته ګوري ژاړې
یه پۀ ګاړه ولاړ بد مست پُښتونه !
پۀ خدای که ځان دې پېژندلے نۀ وې
داسې بچې به دې پۀ اور کښې سوزي
داسې بې دره ، بې دیاره به یې
داسې به ورک پخپل وطن کښې ګرځې



www.pukhto.net

# په کودرې کښې ورخاړے

چې ارمانونو دَ غوښتنې چارې پرېښودلې
دَ یاد په تېولو خړو خلو چې دمه کښېناستم
دَ انتظار ډېوې په هغه تاخ کښې نۀ بلېدې
دَ وران زړګي دَ امېدونونه چې ساه اوختـه
په تورو زلفو کښې وخت سپینې کرښې راښکودلې
خزان رنګونه دَ ځوانۍ لۀ ګلستانه یوړه
چې دَ مستۍ نه مې اثر دَ لېونتوب اووتو
دَ دوران غم دَ محبت دَ غمه اوویستمه
دَ چا راتګ ته چې لېواله لارې نۀ څارمه
ځاره ! په ژوند کښې کله کله څۀ عجبه وُشي
ماته په دې وخت کښې یو ښکلې لاس دَ مینې راکړو

ځار یوسفزے

www.pukhto.net

# هوس

دَ هوس ډکې سترګې ........
کوم خوا چې اوړي نو پهٔ بله اوړي
دا آرزوګانې سترې ـــــ دا سلسله دَ غوښتو
خدايه ! دا ولې غوارې
خدايه ! دا څومره غوارې
کله خېرات دَ وجود ـــــ تورې جورې سترګې
کله شرنګا دَ پانزېب کله مستي دَ بنګړو
کله خوږې خبرې ، دَ نازنينو دَ خلې
دَ زړهٔ پهٔ دشته کښې چې هر خوا سپرلي ټوکوي
د پرهرونو پهٔ سر ـــــ لکه ټکور چې لګي
دَ ذات دننه کمے ـــــ ستا پهٔ راتلو پوره شي
هوس دَ سر نه اوځي ..............
نو فطرت غلے کښېني



www.pukhto.net

## انځورګر

زهٔ دَ کچه پیکه رنګونو عجیبه انځورګر
دَ خیال پهٔ زمکه دَ جانان دَ تصویر کرښې راښکم
دَ هره ګوټه یې چاپېره شمه تاؤ راتاؤ شم
وېمه رنګونه ورله څنګه او دَ کومې راوړم
سر پهٔ زنګون شمه دَ سوچ پهٔ جزیرو کښې ورک شم
هم پهٔ دې ورکه کښې یو خیال مې پهٔ مزغو کښې راشي
دَ کائېنات رنګونه ولې دې له رانوړمه؟
یوه شېبه داسې ورک یم چې پهٔ بېرته راشم
نو شپې ته وایم دَ جانان اوربل له تور راکړه
ګلاب ته وایم دا سرخي دَ یار رخسار له راکړه
وړمه احساس چې دَ جانان دَ ګلورین وجود کړم
دَ تندرونو کړسا جوړه کړم خندا دَ جانان
د ابشارونو مستي راوړمه ادا له ورله
قدوقامت یې څهٔ دَ سروې دَ چناره واخلم



www.pukhto.net

دا ټول رنګونه چې را جمع کړم نو وګورمه
دَ هره ګوټه يې چاپېره شمه تاؤ راتاؤ شم
پهٔ دې انځور کښې راته چرته کښې کمے ښکاره شي
زهٔ دَ کچه پيکه رنګونو عجيبه انځورګر
دَ خيال پهٔ زمکه پهٔ راښکودو کرښو لاس راکاږم



www.pukhto.net

# غني خان يو نظريه ده

څهٔ ترون دَ سوز او ساز دے
څهٔ دَ مستو بنګړو شور دے
خاموشي دَ سمندر ده
مصمم لکه دَ غر دے
چې پهٔ يو خبره کلک دے
چې دَ خپلې مرضۍ خان دے
غني خان يو نظريه ده
نظريه يو غني خان دے
سُر او تال دے سوز او ساز دے
چې دَ هر اړخه غڼ دے
غني خان داسې آواز دے
دَ ژوندون پهٔ نبض پوهه
دَ هستۍ د راز خبر دے
انځورګر دَ کمالاتو



www.pukhto.net

سنګ تراش دَ احساساتو
یون یې داسې دے په پښو کښې
چې منزل یې چرته نیشته
وسعتونه ورته ځېر دي
وزرونه یې دَ باز دي
دَ خپل زړهٔ دَ اراداتو
دَ بل زړهٔ دَ کېفیاتو
څهٔ نقشه داسې راکاږي
چې اولس ورته حېران شي
لېونے فلسفي وایي
زمکه څهٔ ده اسمان څهٔ دے
کهٔ مکان دے لا مکان دے
خو موقوف پهٔ یو انسان دے
انسان څهٔ دے تضادات دي
مجموعه دَ تور او سپین ده
جنګ دَ خوښې او ناخوښې
کله څنګه کله څنګه
غني دې لېونے کړم


www.pukhto.net

دا خیال یې ترې وېستلے
دا خیال یې بیا پېرلے
دَ لفظونو په امېل کښې
دا امېل یوه نظریه شوه
غني خان یې لېونے کړو
غني خان لهٔ خوده اوځي
لا شعور یې په ګډا شي
لېونے شي سپېلنې شي
بیا په ګډو وډو سر شي
ګډې وډې نظریه شوه
دَ هر چا په زړهٔ کښې ځای شوه
دَ هر چا په شونډو راغله
دَ غني دغه سندره
لر او بر په ګډا سر شو
پښتونخوا فلسفي اوموند
دا ګوهر پښتنې خاورې
په مزه مزه را لوئ کړو
دا ګوهر یو نظریه شوه



www.pukhto.net

دَ هر چا پۀ زړۀ خوره شوه
دا خبره لاړه لرې
دَ وطن دَ حده وتې
دبستان شور دَ خپل فکر
غني خان يو نظريه ده
نظريه يو غني خان دے



www.pukhto.net